وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴿۴﴾

ان الله يحب ان يقرآء القرآن كما انزل

تجويد القرآن

ليكونكى : ذكرالله (شيرزى) راسب

كال : ۱۳۹۱\۵\۱۵ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

دالي

د سپېڅلو شهيدانو څخه پاتې يتيمانو تر څنګ هغو ځوانانو ته

چې د غربت سيلۍ د همزولو له سيالۍ شړلي.

ذکرالله شيرزی راسب

لړلیک

عنوان	مخ

بسم الله الرحمن الرحیم

د تجويد د علم تعريف :

الف: تجويد په لغت کې ښايسته کولو ته وايي او په اصطلاح کې هر حرف د خپل مخرج نه اداء کول دي سره د ټولو صفاتو بي له څه تکليف او مشقت نه .

ب: تجويد هغه علم دي چې د حروفو د مخارجو او صفاتو څخه بحث کوي .

علم تجويد : عبارت د هغه علم څخه دي چې پکې د مخارجو او صفاتو څخه بحث کيږي .

د علم تجويد موضوع: ددې علم موضوع د هجاء حروف دي د الف نه تر ياء پورې .

د علم تجويد غرض: د علم تجويد غرص او هدف د قرآنکريم صحيح لوستل دي .

د علم تجويد فايده : ددې علم فايده ددواړو جهانونو کاميابي او د الله (ج) رضاء ده .

د علم تجويد فضيلت : د تجويد علم د ټولو علومو څخه افضل او اشرف علم دي ځکه چې ددې علم تعلق د ټولو شيانونه د افضل او بهتر شي سره دي چې هغه عبارت دي له قرآن کريم څخه چې د پروردګار عالم کلام دي .

د علم تجويد حکم : په قرآنکريم ،نبوي سنت ، او د امت په اجماع سره ثابته ده چې د قرآنکريم لوستل په تجويد سره واجب او ضروري دي او پدې کې هيڅ اختلاف نشته لکه څنګه چې الله (ج) په سورة مزمل کې فرمايلي دي :(ورتل القرآن ترتيلا)

ژباړه :قرآن کريم ښه ورو ورو او په پوره اطمنان سره لوله .

تفسیر بیضاوي ددې آیت شریف داسې ترجمه کوي «وجودالقرآن تجویدا» یعنې قرآن کریم په تجوید سره لوله .

همدارنګه د علي (ض) نه ددې آیت شریف ترجمه داسې نقل شوې ده «الترتیل هو تجوید الحروف ومعرفة الوقوف» یعنې ترتیل دیته وایي چې په تجوید سره د حروفو اداء کول او د وقفونو پژندل .

همدارنګه په حدیث شریف کې راځي چې رسول الله (ص) فرمایي «ان الله یحب ان یقرآ القرآن کما انزل » ژباړه :بیشکه الله (ج) خوښوي چې قرآن کریم داسې ولوستلي شي لکه څنګه چې نازل شوي دي او داښکاره خبره ده چې قرآنکریم په تجوید سره نازل شوي دي فقهاء امت مسلمه هم د الله تعالې او د هغه رسول (ص) د حکم په بناء باندې د علم تجوید حاصلولو دهغه موافق قرآن لوستل ضروري ګرځولي .

علامه جزري (رح) په خپل مشهوره رساله (مقدمة الجزریة) کې فرمایي چې ژباړه یې ده : په تجوید سره قرآن لوستل حتمي او لازمي دي او څوک چې په تجوید سره قرآن نه لولي هغه ګنهګار دي .یعنې قرآن په تجوید سره لوستل ځکه ضروري دي چې الله تعالې قرآن په تجوید سره نازل کړي دي او همدارنګه دا قرآن د الله تعالې نه تر مونږ پورې په تجوید سره رارسیدلي دي .

علامه شیخ محمد مکي نصر په خپل کتاب نهایة القول المفید کې فرمایي چې ژباړه یې ده بیشکه ټول امت مسلمه په دې باندې اتفاق کړي دي چې تجوید واجب دي د نبي کریم (ص) د زمانې نه تر دې زمانې پورې او په دې کې هیڅا هم اختلاف نه دي کړي او دا د ټولو څخه مضبوط او قوي دلیل دي یعنې پدې کې اختلاف نه کول تر ټولو څخه قوي دلیل دي . همدارنګه ملا علي قاري (رح) فرمایلې دي چې ژباړه یې ده :په دغه علم تجوید کې اختلاف نشته چې د ا فرض کفایي دي لکن عمل په تجوید سره فرض عین دي .

علامه جلال الدين سيوطي (رح) پدي اړه په الاتقان في علم القرآن کي فرمايي : لکه څنګه چي د قرآن کريم معني او مفهوم ضروري او تعبدي بڼه لري همدارنګه قرآن کريم په تجويد سره تعبدي او ضروري بڼه لري .

همدارنګه رسول الله (ص) ددي په اړه داسي فرمايي «انزل القرآن علي سبعة احروف»

ژباړه : الله (ج) قرآن کريم په اوو (۷) طريقو سره نازل کړي دي يعني په اوو (۷)لحجو يا اوو (۷) حروفو سره

زمونږ د قرآئت يعني د قرآن کريم لوستل د امام حفص (ح) د روايت په شان دي يعني زمونږ د قرائت امام امام حفص (رح) دي چي ښاغلي په (۹۰) هجري کال کي په کوفه کي زږيدلي دي او په (۱۸۰) هجري کال کي وفات شوي دي چي دده استاد امام عاصم کوفي تابعي (رح) دي .

خلص مطلب دا چي د علم تجويد زده کړه فرض کفايي او بيا پري عمل فرض عين دي .

د قـرآنکـريم د لـوستلو طـريقي:

قرآن کريم په څلوروطريقو سره لوستل کيږي چي په دي ټولو طريقو سره يي لوستل جائز دي چي هغه طريقي عبارت دي له :

۱:- ترتيل : لکه څنګه چي يو شخص د مجلس د افتتاح لپارتلاوت کوي.

۲:-حدر : د ترتيل څخه لرپه تيري سره لوستل کيږي .

۳:-تدوير : لکه څرنګه چي قاريان يي په رمضان کي لولي.

۴:- تحقيق : يعني د قرآن کريم ثابت لوستل .

چي دا طريقي د لوستلو لپاره جواز لري او هغه طريقي چي پري د قرآن كريم لوستل جواز نه لري عبارت دي له :

۱:ـ تطريب : يعني قرآنكريم د سندرو په شان لوستل .

۲:- ترقيص : ددي دوه معناگاني دي (قرآنكريم په سكته لوستل،قرآنكريمد حرف مده په شان لوستل).

۳:-ترعيد : قران كريم په داسي طريقي سره لوستل لكه څوک چي يخني نيولي وي .

۴:- تحزين : قرآنكريم په داسي شكل سره لوستل لكه په چا چي غم يا مشكل وي

د قـــرآن كـــــريم د تـلاوت آداب :

۱:- په پوره اودس لرلو سره لوستل او د جنابت او بي او دسي په وخت كي د قرآن كريم لوستل ډيره لويه ګوناه لري .

۲:- د قرآن كريم د تلاوت په وخت كي مستحب ده چي مخ د قبلي په لوري كړو.

۳:- د قرآنكريم د تلاوت په شروع كي د اعوذ بالله من الشيطن الرجيم ويل ضرور دي .

۴:- د هر سورة په شروع كي بسم الله الرحمن الرحيم ويل واجب دي په خاصه توګه د فاتحي د سورة په شروع كي . قوله تعال: فَإِذَاقَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْبِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ (۹۸ النحل

۵ - قرآن په ترتيل سره لوستل (ورتلالقرآنترتيلا) دترتيل په باره كي شاعبدالغزيز(رح) په خپل تفسيركي ليكلي دي چه ترتيل په لغت كي صفااوواضح

لوستلوته وايې اوپه شريعت کې دخوښيزونولحاظ ساتلوسره تلاوت کولوته وايې چه هغه ښيزونه په لاندې ډول دي:

الف : دحروفوصحيح اداکول يعني دخپل مخرج څخه چه د ضا پرځاي دال يا ظا تلفظ نشي.

ب : دوقف پرځاي په ښه شان سره دريدل چه وصل اوقطعي يعني يوځاي کول اوجداکول دکلام بې ځايه نشي.

ت : حرکتونه سره کډوډنشي زور،زيراوپيښ په ښه شان ښکاره اداشي.

ث : آوازلړاوچتول چې دقرآن الفاظ له ژبې اوزي اوغوږونه واوري.

ج : قرآن په ښه آوازدردونکې غږتلاوت کول چې په زړه اثروکړي دردناک آوازپه زړه ژراثرکوي.

ح : شداومدښه ښکاره کول چې ددي په ښکاره کولوسره دقرآن لوي شان ښکاره کيږي اوله اثرسره مددکوي.

خ : درحمت اوغذاب دآيتونوحق اداکول.

۶ : -دتلاوت پرمهال حاضرين ته واجب دي چې چوپ وي اوپه نوروکارونوله مشغوليدوڅخه بايدډډه وکړي قوله تعالي : وَإِذَاقُرِیءَالْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوالَهُوَأَنصِتُوا (اعراف۲۰۴)

۷ - قاري اواوريدونکي ته په کارده چې په خشوع اوادب سره خپل زړه اوحواس دقرآن تلاوت ته متوجه کړي چې دادسکوت له غوښتني څخه ده لکه په مخکې آيت کې مګرفرياد،چيغ کول شورماشورجوړول دقرآئت په وخت کې

دمشرکانوصفت دي ځکه کله به چې قران لوستل کیده نومشرکانوبه یوله بله سره خبري چیغ اوشورماشورجوړولوچې قرآن کریم ورته داسې اشاره کړیده .

وَقَالَ الّذِينَ كَفَرُوالاَتَسْمَعُوالِهَذَاالْقُرْآنِ وَالْغَوْافِيهِ (فصلت ۲۲) اوکافرانوویل دغه قرآن ته غوږمه نیسي اوپه هغه (مهال) بیهوده خبرې کوي

۸- قاري بایدترخپله وسه قرآن کریم په ښه صوت سره تلاوت کړي ځکه رسول الله صل الله علیه وسلم فرمایې : (لیس منّامن لم یتغنّبالقرآن) ((هغه له مونږڅخه نه دي چه قرآن په ښه آوازنه لولي.

۹ - قاري بایدخپل صوت دسندروویونکو،فاسقان یهودواونصاراددین آوازونوسره تشبح نه کړي اوپه اودښه صوت په کوښښ کې دبېځایه تکلف نه ځان وساتي

۱۰ - قاري اواوریدونکي به دقرآن په آیتونوکې به تدبرفکرکوي اودهغه په معني اومقاصدوپه پیداکولوکې به فکرکوي.

أَفَلاَيَتَدَبَّرُونَالْقُرْآنَ (النساء ۸۲) ((ایاپه قرآن کې تدبراوفکرنه کو

۱۱ : دقرائت په وخت کې په خشوع کې مبالغه کول اوقصداًدژړاکولوکوښښ مستحب دي ترڅودخداي جل جلاله غطمت اولويې په یادراوړل شي چې قرآن دهغي کلام دي.

۱۲ – ترخپله وسه دقرآن کریم داوامرواطاعت کول اودهغه له مخالفت څخه ځان ساتل ځکه قرآن به دقیامت پرورځ هغه چاته حجت،نوراوشفاعت وي چې عمل یې ورباندې کړي وي.

مګرهغه ثوک چې قرآن تلاوت کوي خودقرآن له دستوراتواواوامروڅخه سرغړونه کوي نوقرآن به دقیامت په ورځ پرداسې کس لعنت وایې.

۱۳- یومسلمان ته پکارده چې حداقل په څلوېښتوورځوکې یوځل قرآن ختم کړي اوسنت ده چې هره ورځ یوجزءتلاوت کړي یاحداقل دورځې لس آیته تلاوت کړي ترڅودغافلانوپه ډله کې حساب نه شي.

۱۴ - مستحب ده چې قاري دقرآن په ختم کې دعاوکړي نورهم حاضرکړي چې په دعاکې ګډون وکړي ځکه چې داددعااستجابت اودخداي جل جلاله درحمت دنزول وخت دي.

۱۵ - بایددقرآن تلاوت دخداي جل جلاله درضالپاره وي ځکه چې دقرآن تلاوت له لویوعباداتوڅخه دي نوعبادت بایددغیرالله لپاره نه وي.

۱۶ - تلاوت دبل غرض اواجرت اخیستلولپاره حرام دي.

من قرءالقران یتاکل به الناس جاء یوم القیامة ووجهه غظم لیس علیه لحم ‹رواه بیهقي

ثوک چې قرآن ددي لپاره وایې چه دخلقونه خوراک وکړي دقیامت په ورځ به په داسې حال کې راشي چه دهغه مخ به تش هدوکې وي غوښه به پري نه وي.

۱۷ - دتلاوت دسجدي په اوریدوسره دتلاوت سجده کول.

لــــحــــن :

لحن : په لغت کي لب یا لحجي ته ویل کیږي چي مورو‌جه معني یي غلطي کول دي . معني دا چي لحن د تجوید ضد ته ویل کیږي یعني تجوید د قرآن کریم

صحیح لوستلو ته وايي او لحن د قرانکريم غلط لوستلو ته وايي .لکه په حديث شريف کي راځي «اقرأوا القرآن بلحون العرب و اصواتها» ژباړه : تاسي قرآن د عربو په لب او لهجو باندي ولولي او همدارنګه د هغوي په آوازونو باندي.

د لحن اقسام :

لحن په دوه قسمه دي .

لحن جلی : یعني ښکاره غلطي کول چي حکم يي حرام دي او که په لمانځه کي واقع شي لمونځ فاسدوي .

لحن خفی : يعني پټه غلطي کول چي په هغې باندې فقط قاريان پوهيږي لکه د هغه صفاتو پرېښودل چي هغه د کلېمې د ښايست لپاره وضع شوي وي چې حکم يې مکروه دي .

د لحن جلي اقسام :

لحن جلي په پنځه قسمونه لري چې عبارت دي له :

۱:- تبديل حرف بالحرف: د يوه حرف په ځاي بل حرف لوستل .

لکه : د الحمد پرځاي الهمد يا د قال پر ځاي کال لوستل .

۲:- تبديل حرکت بالحرکت: د يوه حرکت په ځاي بل حرکت لوستل.

لکه : مثلاً د " يُوصَلَ " په کلمه کي " يُوصَلُ"دلام حرف دزورپرځاي پيش تلفظ شي

۳:- تبديل حرکت بالسکون: د حرکت بدلول په سکون سره .


لکه : د يُوصَلَ پرځاي يُوصَل لوستل چې لام يې ساکن کړ.

۴:- مخفف حرف مشدد لوستل د يا مشددحرف مخفف لوستل .

لکه : الرحمن الرحیم کې د ر حرف مشدد ونه لوستل شي

۵:-د یو حرف زیاتول یا کمول .

لکه : " هُمُالْخَاسِرُونَ " داسې لوستل " هُمُالْخَاسِرُن "دواوحرف څرګندنه کړي.



په قرآئت کې د تعوذ او بسم الله ویلو حکم او محل:

محل د تعوذ : د تعوذ محل ابتدآء یا شروع د تلاوت دي او حکم یې سنت دي او بعضي علماء ورته واجب وایي د وجوب دلیل یې لاندې آیت شریف بولي «فاذا قرائت القرآن فاستعذ باالله ...»

د بسم الله محل : د بسم الله محل ابتدآء د سورة دي او حکم یې سنت دي.

د قـــــرآن کــــــريم د لــــــوستلو طـــــريقى :

د قرآن كريم د لوستلو لپاره دري طريقې دي .

١:- ابتداء د تلاوت او ابتداء د سورت : چې ديته تعوذ او بسم الله دواړه ضروري دي ځكه چې ددې دواړو محلونه موجود دي.

٢:- ابتداء د تلاوت د سورت په منځ كې : دلته تعوذ لوستل ضرور دي ځكه چې محل يې موجود دي او د بسم الله په ويلو كې اختيار دي.

٣:- ابتداء دسورت دتلاوت په منځ كې : دلته د بسم الله لوستل ضروري دي ځكه چې محل يې موجود دي او د تعوذ په لوستلو كې اختيار دي .

تعوذ او بسم الله د وصل او فصل له لحاظه څلور طريقې لري:

١:- وصل كل : يعنې بسم الله تعوذ يا اعوذ باالله اوسورت په يوه ساه سره لوستل .

٢:- فصل كل : يعنې هر يو بيل بيل لوستل كيږي .

٣:- وصل اول فصل ثاني : يعنې تعوذ او بسم الله په يوه ساه سره ولوستل شي او سورت په بله ساه سره ولوستل شي .

٤:- فصل اول وصل ثاني : يعنې تعوذ ځانته ولوستل شي او بسم الله او سورت په بله ساه سره ولوستل شي چې دا طريقه غير جايزه ده .

د **سورت برات په سر کی بسم الله نده ذکر شوی** علماء ددې په اړه داسې فرمايي .

الف: د سورت انفال او سورت برات مضامين سره برابر دي .

ب: د بسم الله آيت د رحمت آيت دي او د سورت برات په سر کې بې زاري ده دالله (ج) او د هغه د رسول (ص) د کفارو ځنې نو له دي وجي نه يې د سورت برات په سرکي بسم الله ذکر نه کړه .

نو د سورت برات د لوستلو په وخت کې دري حالته جواز لري .

۱- وصل : يعني آخر د سورة انفال او شروع د سورة برات .

۲- فصل : يعني دواړه جدا جدا ولوستل شي .


۳- سکته : يعني ساه قطعه شي خو آواز جاري وي .

د تـــرتيل اجـــزاوى :

د ترتيل عمده او غټي اجزاوي عبارت دي له:

الف : تجويد الحروف

ب : معرفة الوقوف



د پورتني ترتيب مطابق د ټولو اجزاؤ تفصيل عبارت دي له :


د حـــــرو فـو مخـــرجـو نه:

مخرج : په لغت کي د وتلو ځاى ته ويل کيږي او په اصطلاح کي د کومو ځايونو څخه چي حروف ادآء کيږي هغي ته مخارج ويل کيږي نو بنا په اختلاف ټول مخارج ۱۷ دي .

۱:- امام فراء : ټول مخارج څورلس دي .

۲:- امام سبويه: ټول مخارج شپاړس دي .

۳:- امام خليل بن احمد : ټول مخارج ۱۷ دي .



د مخارجو ډولونه :

الف : مخارج محقق : هغه مخرج ته وايي چي د هغي لپاره په حلق ،شونډو، ژبه او يا شونډو کي يو معين جز وي .

ب:- مخارج مقدر : د هغه مخرج څخه عبارت دي چي د هغي لپاره کوم معين ځاي نه وي .لکه جوف دهن (دخولي خليګاه) ، خشيوم .

د محققه مخرجونو تعداد پنځلس دي او د مقدره مخرجونو تعداد دوه دي مطلب دا چي ټول مخرجونه ۱۷ دي ۱۵ محقق او ۲ مقدر.

حرف : د هغه اواز څخه عبارت دي چي اعتماد وکړي په مخرج محقق او يا په مخرج مقدر. ټول حروف ۲۹ دي .

د مخـــارجـــو اصـــو ل :

د مخارجو اصول دري دي چې عبارت دي له :

الف : حلق

ب : لسان

ج : شفتين

په حلق کې دري مخرجونه دي چې شپږ حروف ورڅخه اداء کيږي او په لسان کې لس مخرجونه دي چې ۱۸ اتلس حروف ورڅخه اداء کيږي او په شفتينو کې دوه مخرجونه دي چې ۴ څلور حروف ورڅخه اداء کيږي .

اول مخرج : د خولې خاليګاه ده چې دري حروف ورڅخه اداء کيږي او هغه عبارت دي له «حرف مده واو ،الف ،يا»

دوهم مخرج : اقصاي حلق دي چې ددي څخه دوه حروف اداء کيږي چې عبارت دي له .«همزه .ها»

دريم مخرج : وسط حلق دي چې ددې ځخه هم دوه حروف اداء کيږي او عبارت دي له .«ع، ح»

څلورم مخرج : ادني حلق دي چې ددې ځخه هم دوه حروف ادآء کيږي چې عبارت دي له.«غ ،خ»

او دې شپږواړو حروفو ته حروف حلقي يا د اظهار حروف هم ويل کيږي .

پنځم مخرج : (ق) .. کله چې د ژبې بيخ د پاسنۍ وړوکې ژبې سره ولګيږي نو ددې ځخه د ق حرف ادآء کيږي .

شپږم مخرج : (ک)..د ق د مخرج نه لږد خولې طرف ته د (ک) حرف اداء کيږي نو د (ق ،ک) حروفو ته حروف لهاتيه هم ويل کيږي چې لهاة په عربي کې وړوکې ژبې ته ويل کيږي .

اووم مخرج : (ج ،ش، ي) ..کله چې د ژبې بيخ دپاس تالو سره ولګيږي نو ددې ځخه دا درې حروف اداء کيږي خو يا يکې غير مده ده چې دې حروفو ته حروف شجريه هم ويل کيږي او شجرپه عربي ژبه کې ونې ته ويل کيږي .

د نورو حروفو د مخارجو د بيان نه وړاندې د غاښونو بيان ضروري دي ځکه د باقي حروفو مخارج اکثره په غاښونو پوري تعلق لري .

د غاښونو نومونه

ټول غاښونه ۳۲ دانې دي چې ۱۶ په پاسنې ژامه او ۱۶ په لاندېنې ژامه کې واقع دي چې ثنايا ،رباعيات ،انياب ،ضواحک ، طواحن ،نواجذ ورته ويل کيږي .

ثنایا غاښونه په دوه ډوله دي

الف : ثنایا علیا : داپه پاس ژامه کې مخامخ دوه غاښونه دي

ب: ثنایا سفلي : داپه لاندنې ژامه کې مخامخ دوه غاښونه دي .

ددې سره په څنګ کې د رباعیات غاښونه دي چې دوه پاس ژامه کې او دوه په لاندینۍ ژامه کې واقع دي .

ددې سره په څنګ کې انیاب غاښونه واقع دي چې دوه په پاس ژامه کې او دوه په لاندینۍ ژامه کې واقع دي انیاب جمع د نیب ده او نیب سوري کولو ته وايي .

د انیاب سره په څنګ کې ضواحک غاښونه واقع دي چې دوه په پاس ژامه کې او دوه په لانینۍ ژامه کې واقع دي .

د ضواحک سره جوخت طواحن غاښونه واقع دي چې شپږ په پاس ژامه کې او شپږپه لاندینۍ ژامه کې واقع دي .

د طواحي سره په څنګ کې بیا نواجذ غاښونه واقع دي چې دوه غاښونه په پاس او دوه په لاندینۍ ژامه کې واقع دي .

ثنایا : څلور غاښونه دي.

رباعیات : څلورغاښونه دي .

انیاب : څلور غاښونه دي .

ضواحک : څلور غاښونه دي .

طواحن : دولس ۱۲ غاښونه دي .

نواجذ : څلور غاښونه دي .

د ضواحک،طواحن ،نواجذ غاښونومجموعي ته اضراس هم ویل کیږي

اتم مخرج : (ض)..کله چې د ژبې غاړه (حافة لسان) د اضراس علیا غاښونو سره ولګیږي نو د ض حرف اداء کیږي د ض حرف نوم اضعث الحروف دي یعني ترټولوحروفو نه په سختۍ سره اداء کیږي.

نهم مخرج : (ل)..کله چې د ژبې څنګ د ثنایا ،رباعیات، انیاب ،او ضواحکو سره ولګیږي نو د لام حرف اداء کیږي .

لسم مخرج : (ن).. د لام مخرج ته نږدې اداء کیږي خو فقط ضواحک غاښونه ورځني جدادي .

یولسم مخرج : (ر) .. دا هم د نون مخرج ته نږدې اداء کیږي فرق ورکې دادي چې پدې کې د ژبې شاه برخه لږي دي حروفو ته«ل ،ن،ر» ته حروف ذلقیه هم ویل کیږي
.

دولسم مخرج : (ط ، د ، ت)کله چې دژبې څوکه د ثنایا علیا د بیخونو سره ولګیږي نو له دي څخه دري حروف ادآء کیږي چې دي حروفو ته حروف نطعیه هم ویل کیږي .

دیارلسم مخرج : (ظ ،ذ ، ث) کله چې د ژبې څوکه د ثنایا علیا سره ولګیږي نو دا دري حروف ورڅخه اداء کیږي چې دي حروفو ته حروف لثویه هم ویل کیږي .

خوارلسم مخرج : د ص ، ز، س) کله چې دژبې سرد ثنایا سفلې د بیخونو سره ولګیږي نو دا حروف ورڅخه اداء کیږي چې د ي حروفو ته حروف صفریه هم ویل کیږي .

پیځلسم مخرج : (ف) ..کله چې د لاندې شنډې خیته د پاسنې شنډې د بهرنې حصې سره ولګیږي د ف حرف ورڅخه اداء کیږي .

شپاړسم مخرج : (ب ، م ، و) دا حروف د دواړو شنډو څخه اداء کیږي چې د ي حروفو ته حروف شفویه هم ویل کیږي .

ب – د بې حرف ته بهري هم ویل کیږي ځکه چې د شنډې د لمدې برخې څخه اداء کیږي .

م – د میم حرف ته بري هم ویل کیږي ځکه چې د شنډې د وچې برخې څخه اداء کیږي .

و- کله چې دواړه شنډې په داسې شکل سره یو ځاي شي چې سره ونه چسپیږي نو د واو حرف ورڅخه اداء کیږي .

اوولسم مخرج : (خشیوم) ..مطلب ورڅخه غنه ده چې د غنې حقیقت د نون مخفي څخه عبارت دي .

دحروفو صفات

صفت : په لغت کې (ماقام بشئ من المعاني) یعنې د معانیو په لحاظ چې یو شي په بل شي پورې قائم وي .لکه عالم ـ او سپینوالئ چې د علم تحقق بغیر د عالم نه نه کیږي او د سپینوالي تحقق بغیر د سپین شي څخه نه کیږي .

په اصطلاح کې صفت هغه حالت او کيفيت دي چې د حروفو د مخرج نه د ادآء کولو په وخت کې مخې ته راځي لکه د حرف باريک ، ډک ، مشدد، يا مخفف لوستل.

د صفاتو د ولونه :

صفات په دوه ډوله دي :

۱- صفات لازمه ۲- صفات عارضه

الف: صفات لازمه : عبارت د هغه صفاتو څخه دي چې د حرف نه په هيڅ صورت کې نه جداء کيږي که دا صيفت په حرف کې ادآء نه شي نو حرف په خپل حال نه پاتې کيږي او بل حرف ورڅخه جوويږي يعني ناقص اداء کيږي لکه : په (ظ) حرف کې د استعلاء او اطباق صيفت دي که دا صيفت پکې ادآء نه شي نو د ظ حرف نه د ذ حرف جوړيږي نو له دې وجهې نه دا صفات په حروفو پورې لازم دي . او د صفاتو ته مميزه مقومه ذاتيه ،او ضروريه هم وايي ذاتيه او مقومه ځکه ورته وايي چې که چيرې دا ادآء نه شي نو د حرف ذات باقي نه پاتې کيږي او حرف کامل نه پاتې کيږي او دا دواړه تقريبا يوه معني لري او مميزه ځکه ورته وايي چې د يو مخرج حروف يو د بل څخه جدا جدا اداء کيږي او د ضروريه او لازمه معني ګاني واضحې دي که صفات لازم ادآء نه شي نو لحن جلي صورت نيسي لکه څنګه چې مخکې ذکر شو.

ب: صفات عارضه : هغه صفات دي چې په بعضې حروفو کې په بعضې اوقاتو کې راځي او بعضې اوقاتو کې نه راځې او که چيرته دا صفات ادآء نه شي په حرف کې تغير نه راځي او په خپل حال پاتې کيږي مګر ددې حرف چې کوم زينت او


حسن دي هغه ورسره ختميږي ددغې وجهې نه دې صفاتو ته مزينه ،محسنه،محليه ،او عارضه وايي . مزينه ،او محسنه ،او محليه دا دري واړه په معنې د زينت ورونكې راځي او عارضه دا معنې چې دا صفت په حرف پوري لازم نه دي كله پكې وي او كله پكې نه وي لكه څنګه چې مخكې د لحن په اقسامو كې بيان شو نو كه دا صيفت ادآء نه شي لحن خفي صورت نيسي . لكه د يوحرف تش لوستل يا د يو حرف ډك لوستل چې ددې صيفت سره فقط حرف مزين شوي دي .

د لازمه صفاتو اقسام :

لازمه صفات ټول ۱۸ قسمه دي چې لس پكې متضاده دي او اته پكې غير متضاده دي.

متضاده دا معنې چې يو د بل ضد واقع شوي وي معني دا چې پنځه صفات د پنځو نورو صفاتو ضد واقع شي او غير متضاده صفات هغه صفات دي چې ضد نه لري .





دا په مختصر ډول د صفاتو بيان ؤ چې وروسته به يې انشاء الله تفصيلآ ذکر شي .

کوم لس صفا ت متضاده چې ذکر شول همس د جهر ضد دي يعني کومو حروفو کې چې د همس صيفت موندل کيږي په هغه کې جهر نه راځي همدارنګه شدت د رخوه ضد دي خو ددې دواړو تر منځ يو بل صيفت دي چې هغې ته توسط وايي همدارنګه استعلاء د استفال ضد دي او اطباق د انفتاح ضد دي او اذلاق د اصمات ضد دي او صفات غير متضاده باالمقابل ضد نه لري ځکه د هغوي ضد بيان نه شو .

۱: **همس** : همس په لغت کې د آواز ټيټ والي ته وايي او د مجويدينو په اصطلاح کې د مهموسه حروفو د ادآء کولو په وخت کې آوازپه مخرج کې په داسې ضعف سر ه اودريږي چې نفس جاري وي خو آواز کې يو قسم ته پستې او ټيټوالې وي او په کومو حروفو کې چې د همس صيفت موندل کيږي هغو حروفو ته مهموسه حروف ويل کيږي او دا صفت په لس حروفو کې موندل کيږي چې عبارت دي له (فحثه شخص سکت)

۲ :**جهر** : په لغت کې د آواز اوچتوالي ته وايي او په اصطلاح کې ددي حروفو د ادآء کولو په وخت کې آوازپه مخرج کې په داسي قوت سره اودريږي چې ددې وجهي نه نفس بنديږي او آواز کې يو قسم ته اوچتوالي وي او کومو حروفو کې چې د جهر صيفت موندل کيږي دي حروفو ته مجهوره وايي او د مهموسه نه علاوه باقي ټول حروف مجهوره ده چې هغه نولس حروف دي او د همس ضد دي .

۳: **شدت** :. شدت په لغت کې سختوالي ته وايي او په اصطلاح کې ددي حروفو د ادآء کولوپه وخت کې اواز په مخرج کې په داسي سختي او قوت سره اودريږي چې په دي سره آواز بنديږي او حرف يي قوي او سخت ادآء کيږي او دا صفت په آتو حروفو کې رآځي چې مجموعه يي ده (اجدک قطبت) نو په کومو حروفو کې چې دا صفت راځي هغوي ته شديده وايي .

توسط : د شدت او رخوة تر منځ توسط يو صفت دي چې ددې لغوي معنې ده چې په منځ کې واقع کېدل دي او په اصطلاح کې ددې مقصد د شدت او د رخوة منځنۍ حالت دي يعنې ددې حروفو د آدا ء کولو په وخت کې آوازنه دومره سخت وي لکه د شدت غوندې او نه دومره نرم وي لکه د رخوة غوندې يعنې د شديده غوند ې آواز فورآ نه بنديږي او نه د رخوة غوندې آواز بلکل جاري پاتې کيږي

بلکه يو منځنې حالت غوره کوي او دا صفت په پيځو حروفو کې رآځي چې مجموعه يي (لن عمر) ده او د ي پنځو حروفو ته حروف متوسط وايي .

۴ : رخوة .. په لغت کې نرمې ته وايي نو د شدت او توسط د حروفو نه علاوه نو ټول حروف په نرمۍ سره اداء کيږي .

۵ : استعلآء.. استعلاء اوچتوالي ته وايي نود مستعليه حروفو د اداء کولو په وخت کې د ژبې بيخ پورته تالو طرف ته اوچتيږي چې ددې حروفو مجموعه ده (خص ضغط قظ)

۶: استفال :په لغت کې لاندې پاتې کيدلو ته وايي او په اصطلاح کې د مستفله حروفو د ادآء کولو په وخت کې د ژبې بيخ بره تالو طرف ته نه اوچتيږي د مستعليه حروفو نه باقي نور ټول د استفال حروف دي

۷:اطباق .. په لغت کې ښه پيوسته کيدلو ته وايي په اصطلاح کې د مطبقه حروفو د ادآء کولو په وخت کې د ژبې بيخ د پورته تالو سره پيوسته کيږي او حروف يي دادي (ص،ض، ط،ظ)

۸: انفتاح : انفتاح په لغت کې خلاصيدلو او جداپاتې کيدلو ته وايي او په اصطلاح کې د دې حروفو د ادآء کولو په وخت کې د ژبې اکثره برخه د تالو سره نه پيوسته کيږي او لاندې جدا پاتې کيږي نو د مطبقه حروفو نه علاوه نور ټول حروف منفتحه حروف دي .

۹: اذلاق ..په لغت کې تیزوالي ته وایي او په اصطلاح کې مذلوقه حروف په اسانۍ سره د شنډې یا د ژبې له څنګ څخه اداء کیږي او د ا شپږ حروف دي چې مجموعه یي داده (فرمن لب)

۱۰: اصمات : په لغت کې په معنی د منع کولو سره راځي او په اصطلاح کې ددې حروفو د اداء کولو په وخت کې لږځه ګراني او سختوالي محسوسیږي نو د مذلقه حروفو نه علاوه نور ټول حروف مصمته دي .

د ځینو مشابه حروفو ترمنځ فرقونه:

د« ذ »او« ز »ترمنځ فرق : د«ذ»حرف هرکله چې دژبې دشاطرف سردپاسنیوثنایاله څوکوسره ولګیږي اداکیږي مګرد«ز»مخرج کله چې دژبې څوکه دذکرشویوغاښونوسره نږیدي شي اداکیږي نوویلای شوچې د«ذ»په اداکې دژبي څوکه بیرون خواته راوځي ولې د«ز»په تلفظ کې نه راوځي.

او«ز»حرف دسفیرصفت لري چې مخکې بیان شودشپلي په شا ن آوازلري.

د« ث »او« س »ترمنځ فرق : د«ث»او«س»حروفوترمنځ همداسې فرق دي کله د«ذ»او«ز»ترمنځ چې موجودؤځکه«س»د«ز»له مخرج څخه اداکیږي اودصفیرصفت لري پداسې حالکې چې«ث»د«ذ»له مخرج څخه اداکیږي دهمس صفت اورخوت په هغه کې واضح دي.

د« ظ »او« ض »ترمنځفرق : د«ظ»حرف کله چې دژبې پاس طرف سردمخامخ پاسنیوغاښونوله څوکوسره ولګول شي اداکیږي د«ظ»په تلفظ کې دژبې دڅوکې طرف برون ته راوځي مګرد«ض»مخرج کله چې دژبې یوا ړخ له پاس خوا (له ښې

ښخه چپ لورته) داضراس غابنونوسره ولګول شي د «ض»توري تلفظ کيږي البته له چپ خواښخه يې اداکول اسانه دي،نوځکه دظامخرج له ض نه لري دي.

اوبله داچې په«ض»حرف داستطالت صفت لري چې بل په هيڅ کوم حرف کې داصفت نشته.

غيـــر متـضـا د ه صـــفـا ت :

۱۱ : صفير .. صفير د شپېلۍ په معني سره دي چې حروف يې عبارت دي له :(ص ، ز ، س)

۱۲ : قلقله .. قلقله په لغت کې جنبش او حرکت ته وايي او حروف يې عبارت دي له : (ق،ط ، ب ، ج ، د)په ق حرف کې قلقله واجب ده چې وشي

۱۳ : لين ..په لغت کې نرمۍ ته وايي او په اصطلاح کې دا حروف د ادآء کولو په وخت کې ډير په نرمۍ سره ادآء کيږي مد کول هم پري جواز لري او دا دوه حرفه دي (و ، ي) په هغه صورت کې د لين حرف بلل کيږي چې کله دوي ساکن او ماقبل حرف يې مفتوح وي لکه (خوف ، والصيف

۱۴ : تفشي .. په لغت کې انتشار او خپريدو ته وايي او په اصطلاح کې د ش د حرف د ادآء کولو په وخت کې اوآز په خوله کې منتشر کيږي کله-منفوش

۱۵ : انحراف .. په لغت کې اوړيدل او مايل کيدلو ته وايي او په اصطلاح کې د منحرفه حرف د ادا ء کولو په وخت کې اواز د حافه لسان نه رآس لسان طرف ته ميلان کوي او يا د رآس لسان نه پشت لسان ته ميلان کوي .چې داقسم غلطي معمولا د ماشومانو نه منځ ته راځي او د انحراف صفت په (ل،ر) کې موجود دي .

۱۶ : **تکرير** . په لغت کې يوځلي څو څو واري تکرارولو ته وايي او په اصطلاح کې د تکرير نه مراد يو حرف په ځاي څو حرفه ادآء کول دي .چې داصفت يوازي د (ر) په حرف کې موجود دي او بس .

۱۷ : **غنه** .. د غنه څخه مراد هغه آواز دي چې د نون مشدده او ميم مشدده د ادآء کولو په وخت کې په پوزه کې پيدا کيږي او دا آواز په هيڅ صورت کې د نون او ميم څخه نه جدا کيږي .

۱۸ : **استطالت** ..په لغت کې طلب د اوږدوالي ته وايي او په اصطلاح کې د استطالت د حرف د ادآء کولو په وخت کې د مخرج د شروع نه د مخرج تر پايه آواز په تدريج سره اوږديږي چې حرف يې (ض) دي .

حروف د قوت او ضعف په اعتبار سره په لاندی ډول دی .

الف : اقواه حروف (ط ، ظ ، ق ، ض)

ب : قوي حروف (ج ، ص ، غ ، ز ، ب)


ج : متوسط حروف (ر ، ت ، ذ ، ع ، ک)

د : ضعيف حروف (س ، ل ، ش)

ر : اضعف حروف (م ، ف ، ه)

عارضه صفات

عبارت د هغه صفاتو څخه دي چې کله په حرف کې موجودوي او کله نه وي موجود لکه څنګه يي چې مخکې بيان وشو .صفات عارضه اجمالا په ديارلس ډوله دي .



پورتني صفات په دوه ډوله دي

الف : عارض بالصفت

ب : عارض بالحرف

عارض بالصفت تفخیم او ترقیق ته وایي او باقي ټول عارض بالحرف دي د عراض بالصفت څخه مطلب دادي چې هغه صفت عارصه چې د کوم عارضي صیفت د وجهې نه پیدا شوي وي مثلا مخکې مونږ وویل چې د خص ضغط قظ څخه علاوه نور ټول حروف باریک لوستل کیږي نو اوس (الف ، لام ، ر) داسي حروف دي چې همیش باریک نه لوستل کیږي نو په بعضې حالاتو کط ډک هم تلفظ کیږي نو په کومو حالاتوکې چې ډک تلفظ کیږي هلته صفت استعلاء عارض کیږي چې د هغې له وجهې نه دا حرف ډک لوستل کیږي نو په (الف ، لام ، ر) حروفو کې تفخیم صفت عارضه دي چې د یو لازمي صفت له وجهې نه پیدا شوي دي .

او عارض بالحرف څخه مطلب دادي چې هغه صفت عارضه چې د یو حرف د یو ځاي کیدوله وجهې نه پیدا کیږي لکه د نون ساکن او تنوین ادغام یا اقلاب ،اخفاء یا په حروف مده کې مد فرعي کولو ځکه چې د نون ساکن او تنوین ادغام او د حروف (یرملون)سره د یو ځاي کیدلو له کبله کیږي د (با) سره د یو ځاي کیدلو له کبله اقلاب کیږي او همدارنګه په حروف مده کې مد فرعي د همزي سره د یو ځاي کیدلو له وجهې نه کیږي او که پردوي باندې وقف یا سکته وشي نو د اخفاء ، اقلاب ،ادغام ،مد ، صفات پکې نه موندل کیږي د دغې وجهې نه دې صفاتو ته صفات عارضه وایي چې کله په حرف کې موندل کیږي او کله نه موندل کیږي

شبه مستعلیه :

شبه مستعلیه حروف عبارت دي له (لا ، لام ، الف) سره له دي چې دا حروف مستعلیه حروف نه دي خو په بعضې حالاتو کې دا حروف ډک لوستل کیږي د مستعلیه حروفو او ددي دري حروفو تر منځ فرق دادي چې مستعلیه حروف هر وخت ډک لوستل کیږي که مفتوح ، مکسور ،ساکن ،مضموم هر قسم وي اوشبه

مستعليه حروف کله ډک او کله تش لوستل کيږي نو دا حروف د مستعليه حروفو سره مشابه دي .

د شبه مستعليه حروفو د ډک او باريک لوستلو حالات عبارت دي له

د لام د ترقيق او تفخيم حالات :

د لام نه مقصد لفظ د الله (ج) دي او نورټول لامونه باريک او تش لوستل کيږي نو لفظ د الله او اللهم لاندي حالاتونه لري :

۱ :- که د لفظ د الله او الهم د لام نه مخکې فتحه وه نو دا لفظ ډک تلفظ کيږي لکه : : هُوَاللّهُ–نَارُاللّهِ الْمُوقَدَةُ

۲ :-که د لفظ الله او الهم نه مخکې کسره وه باريک اداء کيږي لکه :بسم الله – قل اللهم

۳ :-همدارنګه که د"لام" نه مخکې حرف ساکن وي له هغه مخکې حرف زوريا پيښ ولري پدې صورت کې هم د "لام" توري ډک اداکيږي لکه :عَلَى اللّهِ–اعْبُدُواللّهَ وَاتَّقُوهُ.

۴ :-که "لام" نه مخکې حرف زيرولري ياد "لام" نه مخکې ساکن دهغه مخکې حرف زيرولري ترقيق کيږي يعني "لام" ډک نه اداکيږي لکه : قُلِ اللّهُمّ–وَيُنَجِّي اللّهُ

د (را) د تفخيم او ترقيق حا لتونه :

د (را) تفخيم حالتونه

۱:- را : د "را" توري كه چيرې زورياپيښ ولري ياد "را" حرف خپله ساكن مخكې حرف يې زبرياپيښ ولري نوپدې صورت تفخيم كيږي يعني "را" ډكه تلفظ كيږي .لكه: رَبُّكَ–رُزِقُوا–مَرْفُوعَةٌ–عُرْفاً

۲:- را مضمومه ، مفتوحه او يا مشدده وي نو پدې صورتو كې هم ډكه لوستل كيږي . لكه : رزقوا ، رعد ، ففروا

۳ : -را چې كله ساكنه وي او ماقبل يې مضموم او يا مفتوح وي په دې صورت كې هم ډكه لوستل كيږي . لكه :يرزقوه ، برق ، ارسلوا

۴: - را ساكنه وي او ماقبل يې كسره عارضي راغلې وي نو را ډكه لوستل كيږي لكه :ارجعوا ، ارجعي

۵ : - را ساكنه مخكې ورنه كسره اصلي منفصله راغلې وي نو را ډكه لوستل كيږي . لكه : رب ارجعون

او كله كسره عارضي هم وي او منفصله هم وي لكه :ام ارتابو .، ان ارتبتم

۶:- را ساكنه وي او مافبلي يې كسره اصلي وي خو وروسته ورڅخه په يو كلمه كې د مستعليه حروفو څخه كوم حرف راغلي وي نو دلته هم ډكه لوستل كيږي لكه : مرصاد ، قرطاس ، فرقة ، لبالمرصاد ،ارصاد آ ، خو مستعليه خرف به مفتوح وي او زور به لري .

خو که حرف مستعلیه د را څخه وروسته په یوه کلمه کې نه ؤ راغلي نو را باریکه لوستل کیږي لکه :فاصبر ، صبراً

۷:- را ساکنه وي او ماقبل یې هم ساکن وي خوماقبل یې مضموم او یا مفتوح وي نو را ډکه لوستل کیږي لکه : القدر . العسر ، الانهار

د (را) د ترقیق حالتونه :

۱:- را مکسوره وي هغه که مشدده وي او که مخففه نو باریکه لوستل کیږي لکه : رِحْلَةَ

۲- "را" ساکنه اومخکې حرف یې زیرولري ، کسره اصلي متصله وي ، او یا وروسته ورنه حرف مستعلیه نه وي راغلي نوپدې صورت کې ترقیق کیږي "را" باریکه لوستل کیږي. لکه : فِرْعَوْنَ ،شرعة ،مرية

۳:- را ساکنه وي ماقبل یې هم ساکن وي او ما قبل یې مکسور وي نو را باریکه لوستل کیږي لکه: لذي حجر ، ولابکر. خو دا د وقف په حالت کې راځي .

۴:- را ساکنه وي او ماقبل یې یا ساکنه وي لکه : خیر ، قدیر دا هم د وقف په حالت کې راځي .

۵:- را ممالە مطلب هغه را چې اماله پکې شوي وي لکه : مجرها

اماله په ټول قرآنکریم کې یو ځاي راغلي د امام حفص (رح) په نزد

د راپه اداء کولو کې اختلافي ځایونه :

په قرآنکریم کې دري داسي کلیمې دي چې په هغې کې اختلاف دي مطلب دا چې باریک لوستل کیږي او که ډک چې عبارت دي له :

مصر ، فرق ، عین القطر بعضې وایي باریک تلفظ کیږي او بعضې وایي نه ډک تلفظ کیږ ي .

په لفظ د مصر او عین القطر کې د وقف په حالت کې بیا هم اختلاف دي اود وصل په حالت کې لفظ د مصر کې را مفتوحه ده ډکه تلفظ کیږي او په عین القطر کې را مکسوره ده باریکه تلفظ کیږي .

په لفظ د (فرق) کې د وصل او وقف په دواړو حالاتو کې اختلاف دي خلاصه دا چې په پورتني دري کلماتو کې چې کوم را راغلې پدي کې تفخیم او ترقیق دواړه جواز لري .

د الف د تفخیم او ترقیق حالتونه :

که چیري د الف څخه مخکې حرف استعلاء راغلي وي نو الف هم ورسره ډک لوستل کیږي ځکه چې د استعلاء حروف ټول ډک لوستل کیږي لکه :صالحین ، خالدون

همدارنګه په لفظ د الله او اللهم کې هم الف ډک لوستل کیږي او که چیرې د الف څخه مخکې خرف باریک اوستل کیده نو الف هم ورسره باریک لوستل کیږي لکه : ناصرین

د حروفو د تفخيم مرتبې:

تر ټولو ځخه زيات د الله (ج) لفظ ډک لوستل کيږي بيا ورپسي د طا ورپسي د ص ، ض ،ظ ، ق ،غ ، خ ، همداسي په ترتيب سره ډک لوستل کيږي او ورپسي د خ حرف دي چې ډک لوستل کيږي همداشان د الف د تفخيم حالت هم د خپل ماقبل په لحاظ سره دي يعني څومره چې د الف نه مخکې حرف ډک لوستل کيده همدومره ورسره الف ډک لوستل کيږي

د ساکن نون اوتنوين احکام:

په ساکن نون اوتنوين کې څلوراحکام دي ادغام،اقلاب،اخفاءاواظهار

اظهار:

اظهارپه لغت کې څرګندولوته وايي،اودعلم تجويدپه اصطلاح کې ددوه توروجلاکول دي،داسې چې دساکن نون اوتنوين ځخه وروسته دحلقي حروفو (ء،ه،خ،ح،ع،غ) ځخه يوراشي،ساکن نون ياتنوين اظهاريږي اوله وروستي توري ځخه جلاتلفظ کيږي نون په طبعي شکل له خپل مخرج ځخه اداکيږي،ځکه چې نون دخولې له ابتداځخه راوځي،اوحلقي حروف په حلق کې اداکيږي چې فاصله يې يوتربله ډيره ده.

مثالونه:

ء ـ ا:	يَنْأَوْنَ	مَنْ آمَرِهِمْ	كُلٌّ امَنَ
ه :	مِنْهُمْ	اِنْ هُوَ	فَرِيقاًهَرِي

ع :	اَنْعَمْتَ	مَنْ عَمِل	سَمِيعٌ عَلِيمٌ
ح :	تَنْحِتُونَ	فَمَنْ حَجّ	حَكِيمٌ حَمِيدٌ
غ :	فَسَيُنْغِضُونَ	مِنْ غِلٍّ	قَولاًغَيْرَ
خ :	اَلْمُنْخَنِقَةُ	مِنْخَيْرٍ	حَكِيمٌ خَبِيرٌ

ساكن "ن"هغه دي چې حركت (زور،زيراوپيښ) ونه لري يعني غږوندي واله "نْ"دي اوتنوين دوه زورونه،دوه زيرونه اودوه پيښونوته وايي.

ادغام:

ادغام لغوي معني ديوڅيزپه بل څيزكې داخلولوته ويل كيږي. اودعلم تجويدپه اصطلاح كې كه كله دساكن نون ياتنوين څخه وروسته د "يرملون " (ي،ر،م،ل،و،ن) دتوروڅخه كوم يوراشي نوهلته ادغام كيږي اوداډول ادغام دوه ډوله دي غنه لرونكي اوبې غني

الف : غنه لرونكي ادغام

كه دساكن نون اوتنوين څخه وروسته ديمنو (ي،م،ن،و) له توروڅخه كوم توري راشي غنه لرونكي ادغام پكې كيږي.

ب : بې غني ادغام:

كه دساكن نون ياتنوين څخه وروسته دلر (ل،ر) كوم توري راشي بې غني ادغام پكې كيږي.

دغُنه لرونکي ادغام مثالونه: » : مَنْ يَهْدي ـ ايَةً يُعْرِضُوا) م : مِنْ مالٍ ـ قَرارٍمَكينِ)و : مَنْ وُجِدَ ـ يَوْمَئِذٍواجِفَة : عَنْ نَفْسٍ ـ شَيءٍ نُكُرٍ.

بې غُنې ادغام مثالونه: ل : اِنْ لَبِثْتُمْ ـ مَتاعاًلَكُمْ)ر : مِنْ رَبِّكُمْ ـ مَثَلاًرَجُلاً.

غُــنــــــه :

غُنه هغه آوازدي چې له خيشوم (دپزې له ورستي برخې) څخه راوځي اوديوه الف يادووحرکتونوپه اندازه کش کول کيږي. دالف اندازه دومره وي لکه خلاصه کوته چې بنده شي ياتړل شوې ګوته خلاصه کړي شي.

دغنې ډولونه :

غُنه په دوه ډوله ده:

۱- زماني ۲- ذاتي :

دهميش لپاره په مشددميم اون (شدلرونکي "مّ"او "نّ")باندې غُنه کيږي هرځاي چې وي اوادادغام پاتي توري لکه و، کله چې دساکن نون اوتنوين څخه وروسته راشي .

په عمومي ډول ادغام:

دصرفيانوپه اصطلاح کې که دوه همجنس توري په يوه کلمه کې په پرله پسې ډول راشي په داسې حال کې چې لومړي يې ساکن اودوهم متحرک وي نوادغام منځته راځي لومړي توري په دوهم کې مدغم کيږي اوداډول ادغام په دري ډوله دي:

۱ - دجنسينوادغام: كه دوه توري له يوجنس (يومخرج) مخالف صفت څخه په يوه كلمه كې پرله پسي راشي دجنسينوادغامنځته راځي

لكه: قَدْتَبَيَّنَ – اِرْكَبْ مَّعَنَا – يَلْهَثْ ذَّلِكَ - وَدَّت طَّآئِفَةٌ

۲ -دمثلينوادغام: كه دوه يوشان توري په يوه كلمه كې په پرله پسي ډول راشي دمثلينوادغام ورته وايي:

لكه: فَمَارَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ - وَقَدد َّخَلُوا - وَذَاالنُّونِ إِذذَّهَبَ مُغَاضِباً

۳ -دمتقاربينوادغام: كه دوه داسې توري په يوه كلمه كې پرله پسې راشي چې مخرجونه يې سره نژدې صفتونه سره مخالف وي دمتقاربينوادغام ورته ويل كيږي.

لكه:وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمِ – بَل رَّفَعَهُ اللّهُ

قاعده : دهغه ادغام چې لومړي توري يې ساكن اودوهم متحرك وي حكم واجب دي .لكه فاضرب بعصاك الحجر

قاعده : كه دمتماثلينوپه ادغام كې لومړي اودوهم توري دواړه متحرك وي نوهلته ادغام كول جايزدي لكه لاتأمناچې په اصل كې لاتأمن ناؤدامام عاصم رح په نزدجايزادغام په ټول قرآن كي همدايوځاي دي لاتأمناپه كلمه كې دي. اوكه هغه ادغام چې لومړي توري يې متحرك اودوهم ساكن وي هلته ادغام كول منع دي لكه يض ضن داځكه چې لومړي توري قوي متحرك دي اودوهم توري چې ساكن دي ضغيف دي چې دادغام تحمل نلري .دادغام په وجه دادغام دوهم توري ځني په مكمل ډول له منځه ځي اودځنوآوازپاتي كيږي چه دوه قسمه دي.

ادغام کامل : هغه ادغام دي چې کله دوه توري چې لومړي ساکن اودوهم متحرک ادغام شي ترادغام وروسته دلومړي توري هيڅ اثرپاتي نه شي لکه
أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا - مِّن رَّبِّهِمۡ

داډول ادغام په قرآنکريم کې په مشددډول ښودل شوي وي.

ادغام ناقص : ددؤوتوروداسې ادغام چې لومړي ساکن اودوهم متحرک وي ترادغام وروسته دلومړي توري صوت ياآوازپاتې شي

لکه مِن وَاقٍ - مَن يَقُولُ

اقلاب:

اقلاب لغتاًيوخيزپه بل خيزبدلولوته وايي اودعلم تجويدپه اصطلاح کې که ترساکن نون اوتنوين وروسته دب توري په کومه کلمه کې راشي نوتنوين ياساکن نون په ميم بدليږي اوغنه پکې ضروري وي. مثال: مِنۡ بَعۡدِ ـ مِمۡ بَعۡدِ–سَمِيعٌ بَصِيرٌ

اخفاء :

اخفاء په لغت کې پټولوته وايي اودعلم تجويدپه اصطلاح کې داظهار،ادغام اواقلاب له حروفوڅخه پرته دهجاء نوروپنځلسو (ت،ث،ج،د ،ذ ،ز،س،ش،ص،ض،ط،ظ،ف،ق،ک) توروڅخه يوتوري دساکن نون ياتنوين څخه وروسته راشي نودغُنې سره اخفاء پکې کيږي. يعني دساکن نون ياتنوين داداکولومخرج داخفادحرف مخرج ته وړل کيږي اوهلته اداکيږي.

ياپه بل عبارت کله چې داخفاء توري له ساکن نون اوتنوين څخه وروسته راشي نوساکن نون ياتنوين په متوسط ډول داظهاراوادغام ترمنځ اداکيږي.

مثالونه:

	يوه كلمه	دوي كلمې	تنوين
ت :	اَنْتُمْ	وَاِنْ تُبْتُمْ	يَوماًتُرْجَعُونَ
ث :	مِنْ ثَمَرَةٍ	مِنْ ثَمَرَةٍ	خَيرٌثَواباً
ج :	اَنْجَيْنَا	اِنْ جَائَكُم	لِكُلٍّ جَعَلْنا
د :	عِنْدَهُمْ	مِنْ دارِهِم	قِنوانٌ دانِيَةٌ
ذ :	اَنْذِرْهُمْ	مِنْ ذُرِّيَّةِ	يَتِيماًذامَقرِبَةٍ
ز :	اَنْزَلَ	مَنْ زكيّها	نَفساًزكِيَّةً
س :	اِنْسانٌ	اَنْ سَيَكُونُ	لَيالٍ سَوِيّاً
ش :	اَنْشَأْنا	مِنْ شَرِّ	غَفُورٌشَكُورٌ
ص :	يَنْصُرُكُمْ	اَنْ صَدُّوكُم	رِيحاًصَرصَراً
ض :	مَنْضُودٍ	مِنْ ضَعفِ	قَوماًضالِّينَ
ط :	قِنْطارٍ	مِنْ طِينٍ	صَعِيداًطَيِّباً
ظ :	اُنْظُرْ	مَنْ ظَلَمَ	ظِلّاًظَلِيلاً
ف :	اَنْفُسَهُمْ	مِنْ فَضلٍ	خالِداًفِيهَا
ق :	يَنْقَلِبُ	مِنْ قَبلِ	سَمِيعٌ قَرِيبٌ

ک : عَنْکُمْ مَنْ کانَ قَولاًکَرِیماً

د ساکن میم احکام

۱- ادغام، ۲- اخفاءاو۳-اظهار

ادغام : ساکن میم فقط په میم کې ادغامیږي. یعني که دساکن میم نه ورسته بل میم راشي نومیم په میم کې ادغام کیږي اودیوه حرکت به اندازه غنه پکې کیږي.

لکه : (أمْ مَنْ (ومِنهُمْ مَنْ (کَمْ مِنْ (لَهُمْ مَغْفِرَة.

اخفا : که له ساکن میم ورسته د (ب) حرف راشي له غني سره اخفاکیږي. احکام تجویدلکه چې که دمیم نه ورسته دب حرف راشي اخفااواظهاردواړه روادي اولاخفاءکول غوره دي.

مثال : (هُمْ بَارِزُونَ (کَلْبُهُمْ بَاسِطٌ (إِنّ ربّهُمْ بِهِم)

اظهار : دادغام اواخفاحروفو (م،ن) پرته نورچې شپږویشت حروف دي که له ساکن میم ورسته راشي اظهارکیږي . یعني ساکن میم له غني پرته ښکاره اوله خپل مخرج څخه اداکیږي

لکه : أنّ لَهُمْ جَنّتٍ – أمْ حَسِبْتُمْ – ألْحَمْدُلِلّهِ

خودنوروحروفوپه پرتله په (و،ف) تورو کې دمخرج داختلاف په وجه اشداظهارکیږي

لکه : په "و"کې اَمْوَلِ اوپه "ف" لکه کَیدَهُم في تَضْلِلٍ

دحروفوصفات صفت دحرف دادايه وخت كې داسې كيفيت دي چې له بل حرف سره يې فرق وشي دحروفودصفاتويوه ګټه همداده چې دهم مخرج ياقريب المخرج حروفوفرق وشي.

د لام تعريف احكام

لام تعريف دوه احكامه لري

الف : اظهار

ب : ادغام

الف خو د لام تعريف نه وروسته نه شي راتللاي د ۲۸ حروفو د جملې څخه چې د ۱۴ حروفو څخه مخكې لام تعريف راشي نوپه لام تعريف كې اظهار كيږي او په ۱۴نورو حروفو كې ادغام كيږي په هغه حروفو كې چې اظهار كيږي د هغې مجموعه عبارت ده له (ابغ حجک و خف عقمه)لكه په البخل ، القدر ،الكوثر ، العلمين ، القدير او داسې نور .

او ددي نه علاوه په نورو ټولو حروفو كې ادغام كيږي لكه:التوبه ، الشمس ، الرحمن ، الثاقب ، الناس او داسې نور .

چې دي قسم اظهار ته اظهار قمري او ادغام ته يې ادغام شمسي ويل كيږي

غنه :

لكه څنګه چې مخكې تير شول د خشيوم نه چې كوم آواز خارجيږي هغې ته غنه ويل كيږي اوس غنه په دوه قسمه ده :

الف : غنه آني

ب : غنه زماني

د آني او زماني غني حرف په ميم او نون پورې خاص دي او غنه زماني په ميم او نون کې په بعضې حالاتو کې راځي لکه ځنګه چې مخکې د نون ساکن اوتنوين په احکامو کې وويل شول .

او غنه آني د نون او ميم لپاره صفت لازمي دي او په هر حال کې پکې موندل کيږي که ته وغواړې او کنه نو دا صفت ستا له ارادې پرته پکې اداء کيږي او غنه زماني ستا له ارادې پرته نه اداء کيږي نو دا غنه په لاندې حالاتو کې په ميم او نون کې موندل کيږي .

١ : که چيرې دنون ساکن اوتنوين څخه وروسته د حلقي حروفو ، لام ، را نه علاوه نور د باقي شلو حروفو څخه کوم يو حرف راشي نو هلته غنه کيږي .

٢ : کله چې د ميم ساکن څخه وروسته (ميم ، با) راشي يعنې د (ميم مخفاة او ميم مدغمه کې) .

٣ : نون او ميم چې په کوم ځای کې مشدد راشي نو هلته غنه کيږي او د غنې مقدار د يو الف په اندازه سره دي چې د يوه الف په اندازه سره بايد غنه وشي او د يو الف اندازه داده چې خلاصه ګوته بنده او يا بنده ګوته خلاصه کړې .

مدونه :

مد : مد په لغت کې اوږدولو او کشکولو ته وايي او په اصطلاح کې په حروف مده او حروف لين باندې د آواز اوږدول دي . او حروف مده درې دي (الف ،واو

،یا) کله چې ساکن وي او ماقبل حرکت يي د خپل جنس ښخه وي لکه «قال ، قالوا ، قیل » اوحروف لین دوه دي (واو ، یا) کله چې ساکن وي او ماقبل یي مفتوح وي لکه « من خوف ، والصيف»

اول مد په دوه قسمه دی

الف : مد اصلي

ب : مد فرعي

مد اصلي هغه مد ته وايي چې په کوم سبب باندې موقوف نه وي کله چې د مد حروف ادآء کوي هغه خپله ورسره ادآء کيږي لکه (قال ، يقول ، الذي)که چیري په دي حروفو کې مد ونه شي نو د حرف ذات باقي نه پاتې کيږي او همدارنگه مد اصلي په کوم سبب باندې هم موقوف نه دي.

مد فرعي هغه مد ته وايي چې په کوم سبب باندې موقوف وي که چیرې مد فرعي اداء نه شي د حرف ذات ورسره نه ختميږي بلکه د کلیمې چې کوم زینت او ښايست دي هغه ورسره له منځه ځي لکه :(سواء، قالوا ، آمنا)

د مد اسباب :

مد اصلي خوصرف محل مد ته ضرورت لري مد فرعي لپاره د دوو شیانو وجود ضروري دي اول محل مد او دوهم سبب مد .

محل مد هم دوه شيان دي حروف مده او حروف لين او سبب يي هم دوه شيان دي همزه او سکون لکه (والسمآء) کې چې سبب مد یي همزه ده او په (رب العالمين) کې يي سبب سکون دي .

د مد اسباب دوه دي همزه او سکون ددي دواړو دوه دوه اقسام دي

اول : همزه متصل

دوهم : همزه منفصل

مد فرعي اجمالا په څلور قسمه دي

اول : مد واجب

دوهم : مد جائز

دريم : مد لازم

څلورم : مد عارض

مد فرعی اجمالاً په څلور قسمه دی			
مد متصل (واجب)	مد منفصل (جائز)	لازم کلمي مثقل	لازم کلمي مخفف

مد واجب ته مد متصل هم وايي او مد جائز ته مد منفصل هم وايي .

مد فرعي تفصيلا په نهه قسمه دي چي عبارت دي له :

«مد متصل ، مد منفصل ، مد لازم كليمي مثقل ، مد لازم كليمي مخفف ، مدلازم حرفي مثقل ، مد لازم حرفي مخفف ، مد لازم لين مد عارض لين ، مد عارض وقفي »



١ : مد متصل : هغه مد ته وايي چي د حرف مده څخه وروسته همزه په يوه كلمه كي راغلي وي لكه :شَآءَ—جَآءَ—أَلْمَلٰئِكَةِ

مد متصل ته متصل ځكه وايي چي حرف مد او همزه په يوه كلمه كي راغلي او واجب ځكه ورته وايي چي د ټولو قاريانو په نزد دلته مد كيږي

٢ : مد منفصل : منفصل مد هغه مد ته وايي چي د حرف مده څخه وروسته همزه په جدا كلمه كي رغلي وي لكه : مَآأُنزِلَ—أَنَآأَوحَيۡنَآإِلَيكَ

منفصل ځكه ورته وايي چي همزه په جدا كلمه كي راغلي او جائز ځكه ورته وايي چي په بفعضي روايتو كي راغلي او په بعضي روايتو نو كي نه دي راغلي او بله

خبره داده چي دامد صرف د وصل په حالت کي کيږي که مخکې کلمي باندي وقف وشي نو بيا دا مد نه کيږي او مد متصل په وقف او وصل دواړو حالتونو کي کيږي ددي دواړو مدونو سبب همزه دي او د نورو مدونو سبب سکون دي .

۳: مد لازم کليمي مثقل : هغه مد ته وايي چې د حرف مده څخه وروسته په يوه کلمه کي مشدد حرف راغلي وي لکه : وَلَاَالضّآلِّينَ ـ اَلْحَآقَّةُ

دلته سبب مد سکون دي کوم مشدد حرف چي د حرف مده څخه وروسته راغلي په حقيقت کي دا دوه حرفه دي او ساکن دوهم متحرک او په دوهم کي مدغم شوي دي
.

۴ : مد لازم کليمي مخفف : عبارت د هغه مد څخه دي چې په يوه کلمه کې د حرف مده څخه وروسته يو لازمي سکون راغلي وي لکه . مَآأُنْزِلَ ـ أَنَآأَوْحَيْنَآإِلَيْکَ

او دا مد په ټول قرآنکريم کي صرف په همدي يوه کلمه کي راغلي دي د لازمي سکون څخه مقصد دادي چې په هر حال کي ساکن وي يعني د وصل او وقف په دواړو حالتونو کي ساکن دي او مد لازم حرفي صرف په حروف مثطعات کي راځي
.

۵ : مد لازم حرفي مثقل : عبارت دي هغه مد څخه دي چې په حروف مقطات کي د حرف مد څخه وروسته مشدد حرف راغلي وي لکه .الـمّ

کي اول مد مراد دي دلته هم د حرف مد څخه وروسته مشدد حرف راغلي دي خو مشدد حرف په اصل کي دوه حرفه دي اول ساکن او دوهم متحرک اول په دوهم کي مدغم شوي دي او دمد سبب دغه ساکن حرف دي .

۶: مد لازم حرفي مخفف : عبارت د هغه مد څخه دي چې په حروف مقطعاتو کي د حرف مد څخه وروسته سکون راغلي وي لکه . قوَالْقُرْآنِالْمَجِيدِ– صوَالْقُرْآنِذِيالذِّكْرِ

۷: مد لازم لین : هغه مد ته وايي چې په حروف مقطعاتو کي د حرف لين څخه وروسته سکون راغلي وي او دا مد په ټول قرآنکريم کي په يوه کلمه کي دوه ځايه راغلي دي چې هغه عين دي په سورة مريم او سورة شوري کي يي مثال (کهيعص ،حم ، عسق).

۸: مد عارض لین : هغه مد ته وايي چې د حرف لين څخه وروسته سکون عارضي راغلي وي يعني د وقف په سبب ساکن شوي وي لکه (من خوف ، والصيف) خَوْفٍ ـ قَوْمُ ـ يَوْماً ـ لَبَغَوْا

۹: مد عارض وقفي : هغه مد ته وايي چې د حروف مده څخه وروسته سکون عارضي راغلي وي لکه : أَلْعَلَمِينَ

د حروفو ا قسا م :

الف : عام حروف : عبارت د هغه حروفو څخه دي چې د هغې په مفهوم باندې ټول خلک پوهيږي .

ب : مقطعات حروف : دا هغه حروف دي چې د بعضو سوتونو په سرونو کې راغلي وي چې د مقطعاتو حروفو مجموعه عبارت ده له څوارلس حروفو څخه چې هغه عبارت دي له :(نقص عسلکم حي طهر)

په(نقص عسلکم): کي مد فرعي کيږي او په (حي طهر)کي مد اصلي کيږي

د مدونو مقدار یا کیفیت :

په مد اصلي کې صرف قصر کیږي او د قصر اند ازه د یوه الف په اندازه ده ددې څخه اوږدول یې جواز نه لري او د فرعي مد مخطلف قسمونه دي نو مقدار یې هم مخطلف دي چې تفصیل یې په لاندې ډول سره دي .

په مد متصل او مد منفصل کې توسط کیږي په توسط کې هم دري اقواله دي

۱. دوه الفه

۲. دوه نیم الفه

۳. څلور الفه

په مد منفصل کې قصر هم کیږي د امام جزري (رح) په طریقه سره او فقط د مد لازم په څلورو اولیني قسمونو کې طول کیږي چې د طول مقدار دري یا پنځه الفه دي .

په مد لازم لین مد عارض وقفي او مد عارض لین کې طول ، توسط ، قصر دري واړه جائز دي په مد لازم لین او مد عارض وقفي کې اول طول بهتر دي ورپسې توسط او بیا قصربهتر دي او په مد عارض لین کې ددې برعکس دي اول قصر بیا توسط او ورپسې طول بهتره دي خودلته د توسط مقدار دوه اولفه یا دري الفه دي د مد متصل په شان څلور الفه مد جائز نه دي .

کومو مدونو کې چې طول ، توسط ، او قصر دري واړه جائز دي د دري واړو څخه به یو اختیاروي طول ، توسط او یا قصر د تلاوت په شروع کې چې کوم یو قول مو اختیار کړ د تلاوت تر اخره پوري به په همغه قول باندي عمل کوي مثلا طول مو اختیار کړ نو تر اخره پور ي به په طول باندي عمل کوو داسې نه شي چې مثلا په

يو ځاي کي مو دوه الفه توسط وکړ بل ځاي کي دري الفه توسط وکړو بلکه تر آخره پوري يه په همغه دوه الفه باندي عمل کوو .همدارنګه مد منفصل ته په مد متصل باندي ترجيح ورنه کړو ځکه چې مد متصل قوي او مد منفصل ضعيف دي او همدا رنګه مد عارض لين ته په مد عارض وقفي باندي ترجيح ورنه کړو مثلا که مو په مد عارض وقفي کي مو توسط وکړ او په مد عارض لين کي مو طول وکړ نو دا جائز نه دي يا به په دواړو کي مساوات کوي او يا به مد عارض وقفي ته په مد عارض لين ترجيح ورکوي چي په مد عارض وقفي کي طول او په مد عارض لين کي توسط وشي

د همزى قاعدى :

همزه بنيادي دوي قاعدي لري

الف : تسهيل

ب : حذف

د همزي ډولونه :

همزه په دوه ډوله ده

همزه اصلي ، او همزه زائده

همزه اصلي هغه همزه ده چي په مقابل د (ف ع ل) کي راغلي وي لکه : امر ، سآل ، قرآ

همزه زائد هغه همزه ده چي په مقابل ددي حروفو (ف ، ع ،ل)کي نه وي راغلي چي په دوه ډوله ده

الف : قطعي

ب : وصلي

همزه قطعي عبارت د هغه همزي څخه ده چي په هر حال کي نه حذفيږي لکه (الحمد ، اياک)

همزه وصليه : هغه همزه ده چي د وصل په حالت کي حذفيږي لکه (وقالت اليهود)په ټول قرآن کريم کي يو ځاي تسهيل راغلي ده چي په ثلورو يشتمه سپاره کي ده لکه (ءاعجمي)د حذف مثال (بئس الاسم الفسوق)

همزه تفصيلي په پنځه قسمه ده

اول : چي دواړه همزي متحرکي قطعي وي لکه (ءانزل)

دوهم : چي دواړه متحرکي وي په داسي حال کي چي اوله يي قطعي او دوهمه يي وصلي وي لکه (ءالله ، ءالئن)

دريم : چي دواړه متحرکي وي په داسي حال کي چي اوله يي متحرکه قطعي او دوهمه يي ومتحرکه وصلي وي لکه (ءاستکبرت ، ءاطلع)

ثلورم : چي اوله همزه متحرکه قطعي او دوهمه ساکنه وي لکه (آمن ، ايمان)

پنځم : چي اوله متحرکه وصلي او دوهمه ساکنه وي لکه (رءايتموني) د اولي قاعدي حکم تسهيل او د دوهمي قاعدي حکم تسهيل او ابدال او د دريمي قاعدي حذف او د ثلورمي قاعدي حذف او ابدال او د پنځمي قاعدي حذف او ابدال دواړه دي

ها ی ضمیر:

د هاي ضمیر څخه مراد د واحد مذکر غائب صمیر دي چي د اسم فعل یا حرف پروي متصل شي لکه (رسوله به اکله) د هاي ضمیر څلور قاعدي دي دوه د حرکت په هکله دي او دوه نوري یي د صله یا عدم صله په هکله دي

اول: که چیري د هاي ضمیرڅخه مخکي کسره وه یا یاي ساکنه وه نو هاي ضمیر مکسور لوستل کیږي لکه (به الیه)مګر ددي قاعدي څخه څلور کلمات مستثني دي چي په دوه کلیمو کي مضموم لوستل کیږي او په دوه نورو کلیمو کي ساکن لوستل کیږي سره له دینه چي ما قبل یي مکسور دي په کومو کلماتو کي چي مضموم لوستل کیږي هغه دا دي (وما انسنیه) په سورة کهف کي او (علیه الله) په سورة فتح کي او په کومو کي چي ساکن لوستل کیږي هغه دا دي (ارجه) دوه ځایه په سورة اعراف کي او (فالقه) په سورة نمل کي .

دوهم: که د هاي ضمیر څخه ماقبل نه کسره وه او نه یاي ساکنه موجوده وه نو هاي ضمیر مضموم لوستل کیږي لکه (اخاه ، رآیتموه)مګر ددي قاعدي څخه یوه کلمه مستثني ده چي په هغه کي مکسور لوستل کیږي (ویتقه) سورة نور کي په دي ها باندي همدغه دوه حرکته راځي یعني کسره او ضمه فتحه درباندي نه راځي لاندي دوه قاعدي د صله او عدم صله په هکله دي .

دریم : که چیري د ها ضمیر نه مخکي او وروسته دواړه متحرک و نو په هاي ضمیر کي صله کیږي که ماقبل یي مضموم ؤ نو صله د واو سره کیږ ي او که ماقبل یي مکسور ونو صله د یا سره کیږي لکه (امره الي الله بوجهه سؤء العذاب) مګر یوه کلمه ددي قاعدي څخه مستثني ده چي هغه (یرضه لکم) په سورة زمر کي دي سره ددي نه چي ماقبل او مابعد یي دواړه متحرک دي بیا هم صله نه کیږي.

څلورم : که د هاي ضمير نه ماقبل او ما بعد دواړه ساکن ويا ما بعد يي فقط ساکن ؤ نو په دي دريو صورتونو کي په هاي ضمير کي صله نه کيږي لکه (منه الماء ، يعلمه الكتاب ، منه ايت) مګر په يوه کلمه کي يعني (فيه مها نا) ددي قاعدي څخه مستثني ده سره ددي چي ماقبل يي ساکن دي خو بيا هم صله کيږي

صله ديته وايي چي حرکت اوږد اداَء کړل شي که حرکت ضمه وي دومره يي اوږد کړي چي وروسته ورنه واو ساکن جوړ شي او همدارنګه که حرکت يي کسره وه نو دومره يي اوږد کړي چي ياي ساکنه تري جوړه شي او صله د وقف په صورت کي نه پيدا کيږي بلکه د وصل په صورت کي کيږي .

په لاندي کلماتو کي صله نه کيږي ځکه چي په دي کلماتو کي (ها) د نفس کليمي څخه ده (مانفقه) سورة هود ، لئن لم تنته) دوه ځايه په سوره شعراء کي او يو ځاي په سورة مريم کي (لئن لم ينته) په سورة علق کي فواکه سورة مؤمنون لاندي يو څو کلمات دي چي صورتا د هاي ضمير غوندي دي خو په اصل کي هاي ضمير نه دي بلکه ديته هاي سکته وايياو دا هميشه ساکن دي هغه کلمات دا دي (لم يتسنه)سورة البقره کي – (اقتده)په سورة انعام کي (کتابيه) – په سورة الحاقه کي او همدرنګه يو ځاي (ماليه) راغلي ده (سلطانيه) يو ځا ي په سورة الحاقه کي او دوه ځايه (حسابيه) په سوره الحاقه کي (ماهيه) په سورة القارعه کي چي دا ټول کلما ت دي نهه ځايه راغلي دي

ادغام او د هغي اقسام :

ادغام په لغت کي يو شي په بل شي کي ننوستلو ته وايي او په اصطلاح کي دوه حروفونه په داسي ډول سره يو ځاي کول او لوستل چي يو مشدد حرف ورڅخه جوړ شي .

د سبب او مخرج په اعتبار سره ادغام په دري قسمه دي .

الف : ادغام مثلين

ب : ادغام متجانسين

ج : ادغام متقاربين

ادغام مثلين ديته وايي چي دوه هم مثله حروف يو په بل کي مدغم شي لکه « اذهب بکتابي »

ادغام متجانسين ديته وايي چي د يو مخرج حروف په بل کي مدغم شي لکه « اذ ظلموا »

ادغام متقاربين ديته وايي چي دوه قريب المخرجه حروف يو په بل کي مدغم شي لکه « من ربه »

د مدغم په اعتبار سره ادغام په دوه قسمه سره دي .

۱- ادغام صغير

۲- اذغام کبير

ادغام صغير ديته وايي چي مدغم حرف ساکن وي يعني د ساکن حرف په متحرک حرف کي ادغام کيدل لکه « اليکم مرسلون »

ادغام کبیر دیته وایي چي مدغم حرف متحرک وي یعني مدغم او مدغم فیه دواړه متحرک وي د امام حفص (رح) د روایت مطابق ددي ادغام په ټول قرآنکریم کي صرف پینځه مثالونه موندل کیږي.

اول : اتحاجوني

دوهم : تآمروني

دریم : لان منا

څلورم : نعما

پنځم : مکني

د اداء او کیفیت په اعتبار سره ادغام په دوه قسمه سره دي

اول : ادغام تام

دوهم : ادغام ناقص

ادغام تام هغه ادغام ته ویل کیږي چي د مدغم حرف هیڅ یو صفت بافي پاتي نه شي لکه « من لدنه ، من ربه »

ادغام ناقص هغه ادغام ته ویل کیږي چي د مدغم حرف کوم صفت باقي پاتي شي لکه « من وال »

د حکم په اعتبار سره ادغام په دوه قسمه سره دي .

اول : ادغام واجب

دوهم : ادغام جائز

په مثلين او متجانسين حروفو کي ادغام واجب دي او په متقاربين حروفو کي ادغام جائز دي په ادغام مثلين کي صرف ادغام تام کيږي او ددي ادغام ۱۴ صورتونه په قرآن کي موندل کيږي چي عبارت دي له :

١. د باادغام په با کي لکه « اذهب بکتابي »
٢. د تا ادغام په تا کي لکه « فما ربحت تجارتهم »
٣. د دال ادغام په دال کي لکه « قد دخلوا »
۴. د عين ادغام په عين کي لکه « تسطع عليه »
۵. د را ادغام په را کي لکه « و اذکرربک »
۶. د فا ادغام په فا کي لکه « فلا يسرف في القتل »
٧. د کاف ادغام په کاف کي لکه « يدرکک کم الموت »
٨. د لام ادغام په لام کي لکه « کلا بلا تکرمون »
٩. د ميم ادغام په ميم کي لکه « اليکم مرسلون »
١٠. د نون ادغام په نون کي لکه « من نشاء »
١١. د واو ادغام په واو کي لکه « عصوو »
١٢. د ها ادغام په ها کي لکه « يو جهه »
١٣. د يا ادغام په يا کي لکه « لدي المرسلون »
١۴. د ذال ادغام په ذال کي لکه « اذهب »

د ادغام متجانسین ټول اووه صورتونه دي په قرآن کریم کي چي په شپږو کي يي تام ادغام کیږي او په یوه کي يي ناقص ادغام کیږي

په هغه صورتونو کي چي تام ادغام کیږي عبارت دي له :

١. د تا ادغام په تا کي لکه «اثقلت دعواالله»
٢. د تا ادغام په طا کي لکه « وقالت طائفة »
٣. د دال ادغام په تا کي لکه « قد تبين »
٤. د ذال ادغام په ظا کي لکه « اذ ظلموا »
٥. د ثا ادغام په ذال کي لکه « يلهث ذالک »
٦. د با ادغام په میم کي لکه « ارکب معنا »

په لاندي یو صورت کي ادغام ناقص کیږي لکه

٧. د تا ادغام په طا کي لکه « بسطت، فرطت ، فرطتم ، احطت ،

. د ادغام متقاربين چه په لام تعریف په حرف شمسیه کي ادغام هم ورسره حساب کیږي ٨ صورتونه په قرآنکریم کي موندل کیږي خو په څلورو صورتونو کي تام ادغام کیږي اوپه دوه صورتو کي ادغام ناقص کیږي اوپه یو صورت کي ادغام اختلافي کیږي او په یو صورت کي ادغام اختیاري کیږي

په هغه صورتونو کي چي تام ادغام کیږي عبارت دي له :

١. د لام تعریف ادغام په حروف شمسیه کي لکه «الشمس»
٢. د نون ساکن او تنوین ادغام په لام کي لکه «من لدنه ، هدي لبني اسرائیل »
٣. د نون ساکن او تنوین ادغام په را کي لکه « من ربه ، من ثمرة رزقا »
٤. د لام ادغام په را کي لکه «قل رب »

په لاندي دوو کي ادغام ناقص کيږي

۵. د نون ساکن او تنين ادغام په واو کي لکه «من وال ، مغفرة ورحمة »

۶. د نون ساکن او تنوين ادغام په يا کي لکه «من يقول ، يومئذ يود»

۷. د نون ساکن او تنوين ادغام په ميم کي لکه «من ماء مهين ، دا ادغام اختلافي دي .

۸. د «الم نخلقکم » کي د کاف ادغام په کاف کي اختياري دي يعني ادغام تام او ادغام ناقص دواړه جواز لري خو ادغام تام پکي بهتر دي .

د ادغام موانع

د مثلين لپاره د ادغام موانع :

کله چي دوه هم مثله حروف جمع شي اول ساکن او دوهم متحرک نو ادغام کول واجب دي مګر حروف مده حپل هم مثله کي ادغام نه کيږي لکه « في يوم ، الذي يوسوس ، ان الذين امنوا و عملوا الصالحات » ځکه چي دلته ثقل پيدا کيږي او ادغام د ثقل لري کولو لپاره کيږي او بله وجه داده چي ادغام په قريب المخرجه حروفو کي کيږي او دواړه حروف خپلو کي بعيد المخرجه دي ځکه اول حرف مده دي او دوهم متحرک دي او دريمه وجه داده چي که چيري ادغام وشي نو د حروفو مده مديت به ختم شي يعني د مثلين لپاره د ادغام موانع داده چي اول حرف به مده نه وي .

د متجانسين لپاره د ادغام موانع :

کله چي دوه همجنسه حروف جمع شي او ل ساکن او دوهم متحرک نو ادغام کول واجب دي مګر حلقي حروف په خپل همجمس کي ادغام نه کيږي لکه «فاصفح عنهم » پدي خاطر چي بيا ثقل پيدا کيږي .

د متقاربين لپاره د ادغام موانع :

دلته هم د وړاندي په شکل حلقي حروف په خپل متقارب کي ادغام نه کيږي لکه « فسبحه »

همدارنګه حلقي حروف په غير حلقي حروفو کي هم نه ادغام کيږي لکه «لاتزغ قلوبنا »

همدارنګه د لام هل ، لام بل ، او لام فعل ادغام په نون کي نه کيږي لکه «هل ندلکم ، قلنا ، بل نقذف ، با لحق علي الباطل »

اجتماع ساکنين

د اجتماع ساکنين څخه مقصد د دوو ساکنو حروفو جمع کيدل دي او دا په دوه قسمه دي :

١ – علي حده

٢ - علي غير حده

الف : اجتماع ساکنين علي حده ديته وايي چي دوه ساکن حروف سره جمع شي پداسي شان چي اول حرف يي مده وي او دواړه په يوه کلمه کي وي لکه «آلئن ، دابه » ددي حکم دادي چي اول ساکن په خپل حال پاتي کيږي هيڅ تغير پکي نه راځي د وصل او وقف په دواړو حالتونو کي يو شانته لوستل کيږي .

ب : - اجتماع ساکنين علي غير حده ديته وايي چي د علي حده د دواړو شروطو څخه يو يا دواړه پکي مو جود نه وي چي د دي دري صورتونه دي .

الف : چي دواړه ساکن حروف په يوه کلمه کي وي خواول حرف مده نه وي لکه « القدر العسر »او داسي نور ددي حکم دادي چي د وقف په حالت کي دواړه ساکن حروف په خپل حال باقي پاتي کيږي او په وصل کي دوهم ساکن باندي کسره راځي او د اجتماع ساکنين صرف د وقف په حالت کي وي .

ب : - د مخکيني صورت برعکس يعني او ل ساکن حرف مده وي خو دواړ ه په يوه کلمه کي نه وي لکه « قالا الحمد ، في الارض ، قالوا الئن » دا په اصل کي : «قالاالحمد في الارض ، قالواالئن »وو .

ددي حکم دادي چي په لوستلو کي اول ساکن حرف حذف کيږي او که وقف درباندي وشي بيا په خپل حال پاتي کيږي ځکه چي بيا اجتماع ساکنين صورت نه نيسي .

ج : - دريم قسم دادي چي دواړه شرطونه موجود نه وي يعني اول ساکن نه حرف مده وي او نه په يوه کلمه کي وي لکه «قل الحق ، قل الحمد ، قد يرالذي »د دي حکم دا دي چي اول ساکن ته به کسره ورکوي خو ددي قاعدي څخه ځلور قسمه ساکن مستثني دي چي په دوو باندي ضمه راځي او په دوو باندي فتحه راځي په کومو باندي چي ضمه راځي هغه عبارت دي له :

١ : چي اول ساکن ميم جمع وي لکه « انتم الاعلون ، عليکم الصيام »

٢ : - چي اول ساکن هغه واو لين وي چي کوم د جمعي لپاره وي لکه «دعوالله ، رءوالعذاب » چي په اصل کي (دعو او رءو) و

او په کومو باندي چي فتحه راځي هغه عبارت دي له :

١ : چي اول ساکن د من جاره نون وي لکه «من الناس ، من الله»

٢: چي اول ساکن د الم وي چي د سورة ا ل عمران په سر کي راغلي دي کله چي د الله د لفظ سره وصل شي لکه «الم الله »

وقف :

وقف په لغت کي په معني د ودریدلو او منع کولو سره راځي او په اصطلاح کي داسي تعریف لري «قطع الصوت مع النفس و اسکان المتحرک ان کان متحرکا »

یعني نفس اوآواز دواړه قطع کول او موقوف علیه ته سکون ورکول که چیري مخکي ورباندي سکون نه وي .

په معرفة الوقوف کي په دوه شیانو باندي بحث کیږي .

اول : کیفیت وقف

دوهم : محل وقف

د کیفیت وقف څخه مقصد دادي چي د وقف کولو طریقه او قاعده سړي وپژني

او همدارنګه دا هم وپژني چي په کومو کلمو باندي څرګنده وقف وشي .

او د محل وقف څخه مطلب دا دي چي د وقف کولو محل او ځاي سړي وپژني يعني چي کومي کليمي باندي د وقف او په کومي کليمي باندي وصل وشي .

وقف په اعتبار د کيفيت سره په پنځه قسمه سره دي:

اول : وقف بالاسکان

دوهم : وقف بالاشمام

دريم : وقف بالروم

څلورم : وقف بالابدال

پنځم : وقف بالسکون

اول : وقف بالاسکان ديته وايي چي آواز او ساه دواړه قطع شي او موقوف عليه بالکل ساکن شي او دا وقف په دري واړو حرکاتو کي کيږي (زور ، زير، پيښ او همدارنګه دوه پيښونه آو په دوه زيرونو کي هم کيږي صرف په دوه زورونو کي نه کيږي لکه « يوم الدين ، نستعين ، العالمين ، من نذير ، قدير »

دوهم : وقف بالاشمام ديته وايي چي موقوف عليه بالكل ساكن شي وقف بالاسكان غوندي خو دساكن كولو په وخت كي شونډي داسي ګول غوندي شكل غوره كړي كوم چي د ضمي د ادآء كولو په وخت كي كيږي او دا وقف صرف په ضمه كي كيږي منون وي او كه غير منون لكه «نستعين ، عليم »

دريم : وقف بالروم ديته وايي چي د موقوف عليه حركت د دومره پست اوازسره اداء شي چي نژدي ناست سړي يي د واوري چي دا وقف صرف په ضمه او كسره كي كيږي منون وي او كه غيرمنون لكه «يوم الدين ، نستعين ،قدير ،من النار ، » او په فتحه كي نه كيږي .

څلورم : وقف بالابدال ديته وايي چي يو حرف په بل حرف باندي بدل شي او دا وقف په دوه ځايونو كي كيږي

الف : داچي موقوف عليه د دوو زبرو تنوين وي لكه «مشكورا ، خبيرا ، بصيرا »

دلته دغه دوه زبره په الف باندي بدليږي او دوهم ځاي دا دي چي موقوف عليه تاي مدوره(ګرده ة)وي لكه «مطهرة ، طيبة ، البينة ، الصلواة ،ورحمة »

دلته دغه ګرده ة په هاي ساكنه سره بدليږي «مطهره ، البينه ، الصلواه ، ورحمه»

پنځم : وقف بالسكون ديته وايي چي آواز او ساه دوړه قطع شي او موقوف عليه بالكل تبديلي رانه شي او دا وقف په هغه وخت كي كيږي چي موقوف عليه د مخكي نه ساكن وي لكه «فحد ث ، وانحر ، عليهم»

په قرآنكريم كي څو كلمات داسي دي چي د هغي په آخركي الف ليكل شوي دي خو د ا الف نه په وصل او نه په وقف كي لوستل كيږي چي هغه كلمات په لاندي ډول سره دي .

«او يعفوا ، بقرة ٣١ ، ،، اي تبوءا سورة مائده ٥ ركوع ،،،، لتتلوا سورة رعد ۴ ركوع ،،،،لن ندعوا سورة كهف ٢ركوع ،،،،، ليربوا سورة روم ۴ ركوع،،،،،، ليبلوا سورة محمد ١ ركوع ،،،،ونبلوا سورة محمد ۴ركوع ،،،،،، قواريرا سورة دهر ١ركوع ،،،،، ثمودا څلورځايه فرقان كي ۴ركوع ،،،،عنكبوت څلورمه ركوع سورة نجم ٣ ركوع هود ٢ركوع»

د وقف محل :

د وقف د محل څخه مطلب دادي چي په کوم ځاي کي وقف وشي اوپه کوم ځآي کي وقف ونه شي وقف د معني سره تعلق لري او تجويد د الفاظوسره تعلق لري کوم خلک چي قرآن کريم په معني باندي پوهيږي نو هغوي ته په کار دي چي په کوم ځاي کي جمله پوره کيږي هملته د وقف وکړي او کوم خلک چي په معني يي نه پوهيږي د هغوي لپاره علماء کرام څه علامات واضح کړي دي چي هغوي ته د وقف په هکله څه مشکلات پيدا نه شي ځکه چي که بي ځايه وقف وشي نو معني هم ورسره بدليږي نو ددي خيال ساتل په کاردي چي بي ځايه وقف ونه شي نو هغه علامات چي علماءکرامو وضع کړي دي چي وقف ورباندي وشي په لاندي ډول سره دي «ه ، م ، ط ، ج ،ز ، ص ، ق ، ک ، قف ، صل ، صلي ، لا ، قلا ، معانقه دري ټکي »

اوليني څلور علامات غټ او مشهور علامات دي او باقي نور ضعيف علامات دي په هغوي باندي وقف کول په کارندي

د کلام د تماموالي او نا تماموالي په اعتبار سره وقف په څلور قسمه سره دي :

اول : تام

دوهم : کافي

دريم : حسن

څلورم : قبيح

وقف تام هغه وقف ته وايي چي په داسي کليمي سره وقف وشي چي د هغي کليمي تعلق د ما بعد سره نه لفظي اونه معنوي تعلق وي لکه د سورة بقره د پنځم آيت په اخره کي چي راځي «اولئک هم المفلحون»

ددي ايت تعلق د مابعد سره نه لفظي اونه معنوي شته ځکه وروسته « ان الذين کفروا »څخه وروسته د کفارو حال شروع کيږي او په « مفلحون» باندي د مؤمنانو حال ختميږي

وقف کافي ديته وايي چي په داسي ځاي باندي وقف وشي چي پري لفظي تعلق نه وي د ما بعد سره خو معنوي تعلق وي لکه د سور ة بقرة ۶ آيت په آخره چي وقف وشي « اءنذرتهم ام لم نتذرهم لا يؤ منون – ختم الله علي قلوبهم » ځکه چي په (لا يؤ منون) وقف وشي د مابعد سره يي لفظي تعلق نشته لکن معنوي تعلق يي شته ځکه چي وروسته هم د کفارو بحث دي

وقف حسن ديته وايي چي په داسي ځاي باندي وقف وشي چي د ما بعد سره يي تعلق نه وي خو لفظي تعلق يي وي يعني جمله پوره شوي وي او بيا هم د مابعد سره يي لفظي تعلق وي مثال يي لکه چي د سورة فاتحه په سر کي په «الحمد لله » وقف وشي اګر چي دلته جمله پوره شوه خو د مابعد سره يي لفظي تعلق باقي دي چي هغه « رب العالمين » دي ځکه چي الله موصوف او رب العالمين ورته صفت

راغلي دي اوهمدارنګه چي د رب العالمين تعلق د مابعدسره چي الرحمن الرحيم دي هم همدغه شان دي

وقف قبيح ديته وايي چي په موقوف عليه کلمه باند ي د سره جمله پوره شوي نه وي او که ورباندي وقف وشي جمله پوره کيږي په الحمد باندي وقف کول ځکه چي دلته جمله پوره نه ده د مابعد سره چي يوځاي شي جمله پوره کيږي په دي موقع باندي وقف اختيار ي جائز نه دي خو وقف اضطراري جائزدي لکن د ماقبل څخه به اعاده لازمه وي

وقف اختياري ديته وايي چي خپله قاري په يو ځاي کي وقف وکړي مثلاقاريي ته ټوخي ورشي يا د قاري ساه ختمه شي او يو ځاي کي وقف کوي نو ديته وقف اضطراري وايي په دغه صورت کي به د ماقبل څخه اعاده کوي او د مابعد څخه به شروع نه کوي

ددي څلورو قسمونو څخه علاوه د وقف نور قسمونه هم شته

الف : وقف لازم

ب : وقف اقبح

وقف لازم داسي لازم او ضروري وقف دي که چيري د وقف په ځاي وصل وشي يعني وقف لازم په خپل ځاي کي ونه شي ددي پرځاي وصل وشي نو دلته به نا مناسب او خلاف مقصود و معني به متوهم شي

او وقف اقبح داسي نا مناسب وقف دي چي ددي په کولو سره د غلطي معني توهم کيږي نعني که دلته د وصل پر ځاي وقف وشي نو د غلطي معني توهم به وشي

د وقف لازم مثال د سورة توبه په دريمه کي راځي « والله لا يهدي القوم الظالمين » او دي ايت پسي «الذين امنواو هاجروا وجاهدوا...»راځي که چيري مخکيني آيت د وروستني آيت سره وصل شي نو بالکل خلاف مقصود معني به تري جوړه شي نو په داسي مقام باندي وقف کول لازم او ضروري دي

د وقف اقبح مثال : د سورة نساء په اوومي رکوع کي راځي «ياايهالذين آمنولاتقربوا الصلاة و انتم سکرا...»په لا تقربو ا الصلاة باندي وقف کول ياپه بل مثال کي چي په آل عمران سورة کي راځي «ومامن اله الا الله» و مامن باندي وقف کول نو دلته په وقف باندي سړي ګنهګاريږي نو ځان ساتل ورڅخه ضوروي دي د قضاء په صورة کي سړي ګنهګاريږي خو که قصدي نه وي د مجبوريت په اساس سره وي لکه د سړي ساه ختميدل يا بله وجه وي نو بيا خير دي د ما قبل څخه به اعاده کوي پس ددي دوو په شمول د وقف اقسام ټول شپږو ته ورسيده (لازم ، تام ، کافي ، حسن ، قبيح ، اقبح)

دوقف نښې:

دهري ژبي ويونکي چه کله خبري کوي نوچيرته دريږي اوچيرته نه دريږي،کله ډيراوکله لږايساريږي اوپه ودريدواونه ودريدوکې دخبرې پوره بيان اومفهوم پروت وي.نوضروري خبره ده چې ددي عظيم کتاب لوستونکي ددي رموزوياعلائموپوره خيال وساتي اودغه علايم چې اهل علموددريدواونه دريدونښي مقرري کړي دي چې په لاندې ډول دي:

ο- چيرته چه خبره پوره شي هلته وړه غوندي دايره وي،:داپه حقيقت کې غونډه (ت) ةده چې ةپرځاي يوه وړه دايره وي چې دېته آت وايې دادوقف تام علامه ده پدي ودريدل پکاروي.

م- دادوقف لازم علامه ده پدې باندې هرومروودريدل پکاردي.

ط- دادوقف مطلق نښه ده پدې باندې دريدل پکاردي.

ج- دادجایزوقف نښه ده دلته دریدل غوره دي اونه دريدل جایزدي.

ز- دادمجوزوقف نښه ده دلته نه دريدل غوره دي.

ص- دادمرخص وقف نښه ده دلته پيوست لوستل پکاردي ليکن که څوک ستړي شي دريدل هم جائزدي.

صل- دادالوصل أول (يعن وصل غوره دي) دلته پيوست لوستل غوره دي.

ق- دادقيل عليها وقف خلاصه دلته دريدل پکارنه دي.

صل- دادقديوصل نښه ده دلته کله دريدل اوکه نه دريدل ليکن دريدل غوره دي
.

قف- دادقف نښه ده يعني ودريږه داعلامه هلته پکاريږي چې دلوستونکي دپيوست ويناا حتمال وي.

سياسکته- دادسکت طي نښه ده دلته لږوخت دريدل پکاردي خوتنفس به باقي وي (سابه نه ماتوي

وقفه- دادا وږدي سکتي علامه ده دلته دسکتي په نسبت ډيردريدل پکاردي ليکن چه نفس جاري وي.

لا- دلامعني ده يعني نشته چې داعلامه کله دايت دپاسه ليکل شووي اوکله دعبارت دننه وي که دعبارت دننه وي هلته دريدل بالکل نشته اوکه دايت دپاسه وي پدې کې اختلاف دي ځيني وايې دريدل روادي ځني بياوايې نه دريدل رواه دي خوکه ودريږي ياونه دريږي په مطلب کې کوم خلل نه راځي.

ک- دادکذالک علامه ده يعني کومه علامه چې مخکې تيره شوي وي دلته هم همغه ګڼل پکاردي.

٥ - داعلامه دځنوپه نزدآت دي که وقف وشي نودوباره ويل نشته.

... – دادریوټکووقف دي دېته معانقه ویل شي کله ددي اختصارپه مع سره لیکلي وي دادواړه وقفونه لکه چې معانقه کوي غوندي دي ددي حکم دادي چې پریودریدل اوپربل نه دریدل پکاردي

د ابتداء ، اعاده ، سکته ، او قطع بیان :

ابتدآء : ابتداء دیته وایي چي د مابعد څخه شروع وکړي

اعا ده : اعاده دیته وایي چي د ماقبل څخه دوباره ولوستل شي ددي پژندل ځکه ضروري دي د وقف کولو څخه وروسته په بعضي حالاتو کي قاري د مابعد څخه شروع کوي او په بعضي حالاتو کي د ما قبل څخه اعاده کوي نو ددي وجهي نه د وقف د پژندلو په شانته د ابتدآء او اعادي پژندل هم ضروري دي نو راځو د ابتداء او اعاده محل ته چي عبارت دي له :

څوک چي په معني باندي نه پوهیږي د هغي لپاره قاعده او ضابطه داده چي کله په آیت باندي میم یا طا همدارنګه وقف نبي(ص) او وقف جبرائیل (ع)او په وقف غفران باندي وقف کوي نو د ما بعد څخه به ابتدآء کوي او جیم (وقف جائز)په هکله خلاصه داده چي اعاده د ما قبل څخه او ابتداء د ما بعد څځه دواړه جائز دي او نورعلامات چي کوم دي لکه «صل ، لا ، قلا ، صلا ، » نو په دي باندي وقف کول ندي په کار .او د «ز ، ص ، ق ، قف » کي د ضرورت په وخت کي وقف کولي شي خو بیا به د ما قبل څخه اعاده کیږي .

او کاف چي کوم دي ددي څه مستقل حیثیت نه شته او د کذلک مخفف دي یعني څرنګه حکم چي د ماقبل ؤ همدارنګه ددي هم همدغه حکم دي او د دري نقطو ... تفصیل داده چي په دواړو ځایونو کي وقف نه دي په کار نو چي په اول ځاي باندي وقف وشي په دوهم ځاي باندي وقف کول ندي پکاراو که په اول د وقف وکړ په

دوهم به وصل کوي او کوم خلک چي په معني باندي پوهيږي د هغوي لپاره قاعده داده چي په وقف تام لازم کافي کي به د ما بعد نه ابتدا کوي او په وقف حسن کي که د آيت په آخر کي وي نو د ما بعد نه ابتدآء جائز دي او که د آيت په منځ کي وي نو د ماقبل نه به اعاده کوي په وقف قبيح او اقبح کي د ما قبل څخه اعاده ضروري د ه او په اقبح کي د سره وقف نه دي پکاراو که د ضرورت له وجهي نه وشي نو د ماقبل نه به اعاده کوي په وقف قبيح او اقبح کي د ماقبل نه اعاده ضروري ده .

ابتدآء او اعاده په څلورقسمه ده :

الف : حسن

ب : احسن

ج : قبيح

د : اقبح

که د وقف لازم او وقف تام نه وروسته ابتداءوشي نو دا ابتدآء احسن دي او که وقف کافي يا وقف حسن څخه وروسته ابتدآء وشي نو هغه وقف کافي او وقف حسن چي آيت ورباندي ختميږي نو د ورپسي آيت څخه ابتدآء حسن دي .

او که د وقف قبيح څخه وروسته ابتدآء وشي يا هغه وقف حسن چي د آيت په منځ کي دي نودا ابتدآءقبيح دي .

او که د منافقينو او مشرکينو د قول څخه ابتداء وشي او همدا رنګه د هغه ځاي څخه وشي چي يو نا مناسبه معني تري نه جوړيږي نو دي ابتدآء ته اقبح وايي مثلا په سورة توبه کي راځي لسمه رکوع «وقالت اليهود عزيرن بن الله » په وقالت اليهود باندي وقف وشي او عزيرن بن الله څخه ابتداء وشي .

سکـــته :

سکته د چوپوالي په معني سره راځي او په اصطلاح کي سکته دیته وایي چي بي غیر دساه اخیستلو څخه آواز د لږ وخت لپاره قطع کول دي .

په ټول قرآنکریم کي د حضرت امام حفص (رح) په روایت کي څلور ځایه سکته راځي .

١ : د سورة کهف په اولیني آیت په اخرکي «ولم یجعل له عوجا »

٢ : د سورة یاسین په ٥٢آیت کي «قالوا یا ویلنا من بعثنا من مرقدنا ..هذاما ...»

٣ : د سورة قیامة په ٢٧ آیت کي «وقیل من ....راق »

۴ : د سورة مطففین په ١۴ آیت کي «کلا بل .. ران علي قلوبهم »

په دریم ا و څلورم صورتونو کي د نون او لام ادغام په را کي د سکتي له وجهي نه نه کیږي .

قطـــع :

قطع په لغت کي پري کولو ته وایي او په اصطلاح کي د قرآئت ختمولو ته قطع وایي دا هم د سکتي په شانته د وقف دمتعلقاتو څخه ده .

د وقف او قطعي تر منځ فرق دادي چي په وقف کي د وقف نه وروسته د قرآئت اراده موجوده وي او په قطع کي بیا ورسته د قرآئت اراده نه وي موجوده او په همدغه ځاي سر ه ختمیږي نو قطع په داسي ځاي کي کول پکار دي چي یا سورة ختمه شي او یا د سورة په منځ کي یوه واقعه ختمه شي یا په داسي آیت باندي

قطع وشي چي د ما بعد سره لفظي او يا معنوي تعلق ونه لري او د وقف په علاماتو باندي قطع جواز نه لري .

تمت بالخير

ستاسي د دعاء په هيله:

ذكرالله شيرزى راسب

مأخذونه:

جمال القرآن : حکیم الامت اشرف علي تهانوي(رح)

دروس التجوید : قاری نور خبر حلیم

تجوید القرآن : قاري عبد الرحمن

قرآن کمپلیکس : سعودي عربستان

رساله تحفة الأحسان لتعلیم التجوید القرآن

تجوید آسان : دکترابوعاصم عبدالعزیزعبدالفتاح قاري،مترجم عبدالکریم محمدي

تجوید قرآن : محي الدین مرادي

رادیو قرآن : استاد موسوي

احکام التجوید : نړیوال معتبر سافتویر

تحفة الاطفال :معتبر سافتویر